پرله پسی (۱۷۹)

PROPERTY OF ACKU
2963

پښتو عروض

مؤلف: میا شرف

د

پوهاند رشتین

په

کتنه او سپړنه

پښتو ټولنه

۱۳۴۴

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين حمد الشاكرين والصلوة والسلام على خير البرية وعلى آله التابعين باحسان

اما بعد فان علم العروض لحاجة قد يعرض اليه خصوصا في الاشعار و قد كان الكتب من هذا الفن بالعربية و لا يفهم اكثر الطلاب عنه قد صنف بلسان افغانية هذا عدة من الاوراق ليكون منفعة عامة .

PROPERTY OF ACKU 2963

علم عروض په لغت د دې فن کښې دانستن او دریافتن دی[1] او په اصطلاح کښې هغه کلام دی چه موزون وی په قانون د عروض باندې هم راغلی مقفی وی بل چه قصد ورسره مل وی له قایله۔ که کلام هسې ظاهر شی چه موزون وی او د ده پکښې دا وزن مقصود نه وی دې کلام ته به څوک شعر نه وایینه.

پس دا شعر چه موقوف دی په قانون د عروض باندې، مناسب دی چه بیان د عروض وشی.

زده کړه استخراج د عروض شوی له خلیل ابن احمد بصری دی.

بیا په دې کښې دوه قوله، بعضې وایی له آوازه د قصاره[2] دی اخیستی، بعضې وایی چه خلیل ابن احمد رح ؤ په مکه شریفه کښې علم عروض ورته الهام شو او عروض نوم هم د مکې معظمې دی، په سبب د تبرک یې د دې علم نوم عروض کړ.

بیا لغوی معنی د عروض ډېرې دی راغلی، کل معنی مناسبت لری

---

(۱) په اصل نسخه کښې علم عروض راغلی دی خو د اسهو بنکاری او په ځای یې د (شعر) کلمه مناسبه ده.
(۲) دوبی ته وایی.

له دې علم عروضه .

بعضې وايي عروض وزن دفعول دی په معنی چه دمفعول دی . معروض علیه داشعارودی راغلی ، چه داشعر په ده باندې عروض کاوه شی چه موزون او ناموزون تری معلومېږی .

بعضې وايي چه عروض راغلی په معنی دکشف داظهار دی .

بعضې وايي عروض نوم دلويې لارې چه په غره کښې وی داتللو .

بعضې وايي چه عروض نوم دی دوريځې ، هغه وجه دتشبيه يې منفعت دی .

بعضې وايي عروض نوم دآخر جزودی له مصراع چه اوله وی له بيت ، نوم دجزو په کل راغلی .

فصل : اوس بيان دقاعدې کړم چه داخاصه په پښتو ژبه راغلې ، په بل ځای نه جاری کېږی .

زده کړه اوس چه ابتداده په ساکن باندې محاله بې له ژبې دپښتو چه په پښتو کښې دا په ډېر ځايه راغلې لکه په نور ، سپوږمی مياشت کښې نون - سين - ميم په دې درې واړو اسماو کښې ساکن دی

اعتبار ور لره نشته په میزان کښی. مقدم دکلې هغه مدخول دد وی جوړېږی هم هغه له اعتبار دی په میزان کښی، لکه: «نور د ځ ستا» چه په وزن د فاعلاتن دی.

نون له هیڅ اعتبار نشته، مقابل د «ف» د «و» شی همسی سین بې اعتباره، مقابل د «لام» د «ت» شی، په داشان عمل جاري کړه په پښتو کښی، که دې دا قاعدې زده وی په عروض به د پښتو ناوې زیبا کړې.

فصل دی په بیان د وجه تسمیه کښی دمصراع او د اجزاء دمصراع کښی.

زده کړه چه اکثر له عروضیانو دی قایل په دا خبره چه داشعر به کمتر نه وی له بیت، هر بیت به وی مدام له دوو مصراع جوړ ولی. او په اصطلاح کښی ورته نیم بیت شی ویلی.

او یوې تمبې د درته په لغت کښی مصراع ویل کیږی.

لکه د در تمبه یوازې لری کیږی پورې کیږی. هم بیا که دواړه سره

وروړي، درله دي دواړه ویو رغیږي. هسی د بیت هر مصراع
په استعمال کښی بې له بلی مونده کیږي. هم که دواړه سره وروړي
بیت له دواړه ویو جوړیږي. وړوبې رکن د اول مصرع په صدر
مسمٰی دی او آخر د دې په عروض باندې نومیږي. هغه رکن چه واقع شی
په وسط د دوو مصراع، دی پر حشو نوم کیږي. حشوه وایی هغه شیز ته چه
منځ د بالښتونو اچاوه شی. او عروض و دغه رکن ته په داسبب وایه شی.
چه عروض ستن د خیمې ته په لغت کښی وایه کیږي. لکه خیمه په دغه ستن ودی محکمه،
هسی مصراع په دغه رکن محکمیږي. هم بنا د بیت له دغه رکن په اسانه
معلومیږي، چه کوم بحر دی کوم وزن له دې رکن ظاهریږي. بیا
وړوبې رکن د وروستی مصراع په ابتدا سره نومیږي. او آخر د دې
په ضرب سره یادیږي. په لغت کښی ضرب و مثل هم و نوع ته وایه شی.
ضرب په مثل د عروض دی، چه آخر د مصراع د واړه واقع کیږي.

فصل دی په بیان داجزاو د میزان د بیت کښی.

مرکب میزان د بیت دی له ارکان، هم ارکان یې مرکب له درې

اصولو چه سبب دی بل وتد دی او دریم فاصله ده. بیا سبب دی په دوه قسمه: یو خفیف دی بل ثقیل دی.

خفیف وایی دوه حرفیز ته چه ثانی پکښی ساکن وی لکه: کل شو کاف متحرک لام پکښی ساکن دی.

او حرکت که وی په دواړو کښی راغلی؛ په ثقیل سره نومیږی لکه: کره، سره. (۱) هریو هم په دواړو اسمو نو کښی ثقیل دی. چه هریو دی په دوه حرفه هم په دواړو حرکت دی.

په لغت کښی سبب وایی ورسی ته.

بیا وتد دی په دوه قسمه: یو مقرون دی بل مفروق دی.

مقرون وایی وهغه ته چه دریم پکښی ساکن وی، لکه: کرم چه دریم حرف پکښی ساکن دی هغه میم دی.

او مفروق هغه ته وایی چه د منځ حرف پکښی ساکن وی. دا مثال یې لکه یاره زمایاره، چه الف پکښی ساکن دی. ومقرون وته مجموع هم وایه کیږی.

---

(۱) د کره سره (ه)، د زور نمایندگی کوی او پخوا نه لیکل کیده.

فاصله ده په دوه قسمه : یوه صغرٰی بله کبرٰی ده .

ځلورم چه وی ساکن هغه صغرٰی ده چه مثال یې سمرین دی .

او پنځم که وی ساکن هغه کبرٰی ده سمر بنی چه یې مثال دی .

ابراهیم بن عبدالرحیم عروضی قایل په دادی چه کبرٰی په فاضله سره نوموېږی ، پکښې ضاد معجمه دی. فاضله په دا نوموېږی ؛ چه یو حرف پکښې تېری دی .

او ابن خباز ناقل له بعض چه په ضاد معجمه سره دا دواړه اداکېږی.

او په ریاض الصنایع کښې دی راغلی حاجت نشته په راوړل د فوصلو، په صغرٰی کښې دوه اسبابه دی راغلی چه تقدیم دی د ثقیل په خفیف باندې، هم هسی په کبرٰی کښې دی تقدیم د ثقیل هم په وتد باندې چه مجموع دی .

فصل دی په بیان د وجه تسمیې د بیت په بیت سره .

اطلاق د بیت کا وه شی پر کېږ دی د کوچیانو ، لکه کېږ دی لره دی ستنې هم رسی هم میخونه . هسی موزون کلام لره رسی دی چه اسباب دی هم میخونه چه اوتاد دی .

منسرح مضارع مقتضب مجتث سریع جدید
قریب خفیف مشاکل متقارب متدارک . بحر
بحر چه اول دي عرب پوره خاص دي چه طویل
مدید بسیط وافر کامل دي . عجمي بحر بي ور

عجمي

وي . پدوي کښ نور دا درواړ اجار دي بحر
دي . بل قریب بل مشاکل دي عجم پوره خاص
دي . عربي کلام پدوي کښ نه جوړیږي . فصل
دي په بیان د رکن چه سالم غیر سالم وي دا سالم
رکن هغه دي چه ثابت وي په خپل اصل نه زیاتي
پکښ راغلي نه نقصان وي . او دا غیر سالم هغه
ده هغه رکن چه پده کښ نقصان یا زیادتي وي
لکه چه ته مفاعیلن کړي . مفاعیل چه بسکون د لام
ي واي . او مثال د زیادتي لکه چه ته مفاعیلن
مفاعیلان کړي د غه رکن چه تغیر پکښ راغلي مزاحف

هم هسې فاصلې دي لکه ستنې محکمې د بیت پرې کېږي.

هم هسې بیت وایه شي وکوټې ته وجه د شبهې په دوې دواړو کښې

عزت او اعتبار دي. لکه کوټې له اعتبار په منفعت دي هسې بیت له

اعتبار دي.

لکه وایي عربان:

«رُبَّ بَیْتُ شِعْرٍ خَیْرٌ مِّن بَیْتِ تِبْرٍ»

یعنې ځښتن د بیت د شعر بهتر دی له ځښتن د کوټې چه پکښې وي ټوکړې

د زرو. پس ثابت شو اعتبار د شعر بیت له، لکه دي ثابت کوټې له.

فصل- په بیان کښې د ارکان.

کل ابحار چه ترې حاصلېږي دا اته رکنه دي، زده کړه:

فعولن، فاعلن، مفاعیلن، مستفعلن، مفاعلتن، متفاعلن

فاعلاتن، مفعولاتُ. په ضمه د «ت» راغلی.

بیا اول دواړه رکنونه په دا دواړو کښې راغلي پنځه حرفي دي.

باقي پراوه حرفه راغلي. بیا ته زده کړه له تکراره، دا تو واړه د

ارکانو نولس بحره ولاړیږي. هغه نولس وا ړه دا دي:

طَوِیل، مَدِید، بَسِیط، وَافِر، کَامِل، هَزَج، رَجز،

رَمَل، مُنسَرِح، مُضَارِع، مُقتَضِب، مُجتَث، سَرِیع،

جَدِید، قَرِیب، خَفِیف، مشاکِل، مُتَقارِب، مُتَدارِك

پنځه بحره چه اول دي په عربو پوري خاص دي چه طویل، مدید

بسیط، وافر، کامل دي.

عجمي ټه بې وزنه وي په دوي کښي نور دا دري وا ړه ابحار چه

جدید دی بل قریب بل مشاکل دي په عجمو پوري خاص دي، عربي کلام

په دوي کښي نه جوړیږي.

فصل دي په بیان درکن چه سالم غیر سالم وي.

دا سالم رکن هغه دي چه ثابت وي په خپل اصل نه زیاتي پکښي راځي

نه نقصان وي.

او دا غیر سالم نوم دهغه رکن چه په ده کښي به نقصان یا زیاتي وي

لکه چه ته مفاعیلن کړې مفاعیل چه په سکون دلام یي وایې.

او مثال د زیاتي لکه چه ته مفاعیلن مفاعیلان کړي .

دغه رکن چه تغیر پکښې راغلی مُزَاحَف ورته وایه شي .

او هسې هم دې تغیر ته زِحاف وایي په کسره د «ز» راغلی .

او زحاف جمع د زَحْفْ په فتحه د «ز» او په سکون د «ح» وایه شي . په معنی د لرې پرې وتو دی . لکه وایي عربان سَهمٌ زاحِفٌ هغه غشی ته چه په ښځنک د نښاني وی لګیدلی .

هغه رکن چه زحاف په ده کښې راشي دی له خپل اصل پروت وی په ښځنک لري .

فصل دی په بیان د اقسامو د زحاف کښې .

دا اقسام د زحاف ډیر دی ولی ماڅخی پنځه ویشت قسمه دی را وړی

هغه واړه هم دادی .

اسکان د ثاني حرف ته اضمار وایي ، بیا د ویم متحرک یا به ساکن وی ، وقص حذف د اول دی د ثاني خبن نو میږی . په دا تړاد دري په پنځم حرف کښی ، اول عصب دوهم عقل دریم قبض معلومیږی . بیا په دا تړا دري نور په اوم حرف کښی اول وقف

دوهم کسف، دادریم مدام په کف سره یادېږی .

بیا په کف کښی داهم وایی چه القادحرکت له ماقبل ځنی کېږی .

اضمار روائی په لغت کښی ملانری ته . وقص وایی دورمېږوماتول ته،

خبن- له چوپی څه پربکول دی . عصب -داوښ پتون ترل دی. عقل-زنګون

ترل داوښ دی. قبض وایی اخیستوته . هسی وقف و دربدوته. کسف

داوښ سپینی پربکول دی. کف- نغښت دلمن دی. او څوک وایی لغوی معنی

دده بېرته کېده دی. قطع- په لغت کښی بریدن دی، او په اصطلاح اسقاط

دساکن حرف دی له وتده چه مجموع وی او اسکان دده هم متحرک دی .

او بله قطع خاص د فاعلاتن، په اصطلاح ددوی کښی داده، سبب اخیر

چه تن دی ترې واخلې او له وتدمجموع چه علا دی الف واخلې لام ساکن

کړې چه فاعل شی فَعْلن یې بدل راوړې .

قاعده- دعروض آخر رکن چه ساکن وی منون هلته راوړه شی .

تبیغ- په شین معجمه هم په عین مهمله سره راغلی . په لغت کښی

تمام کول دخیزته وایی . په اصطلاح کښی او راو الف دی په سبب کښی چه خفیف وی

لکه ته مفاعیلن مفاعیلان کړي . زده کړه دا عمل په تسبیغ سره نومېږي.

تذییل : په لغت کښې لمن کښته پرې ښوول دي او په اصطلاح کښې زیادتی دالف ده په وتدکښې چه مجموع وي .

بیا چه په آخر درکن دي وي او داالف دي له ساکنه وي ماقبل ، لکه مستفعلن مستفعلان شي او دارکن په مذال سره نومېږي . استعمال دده په ذال دي او په ز سره یې بعضې هم وایینه .

اشتر- شتر په لغت کښې نقصان عیب دي ، او په اصطلاح کښې اخیسته دمُ دي له جامه د مفاعیلن ، چه فاعلن شي ورته پاتي دغه رکن په اشتر سره یادېږي.

اخرب - خرب په لغت کښې ورانول دي . په اصطلاح کښې اخیستل د من دي له میزانه چه هغه مفاعیلن وي دافاعیلُ په ضمه دلام دي پاتي . او س مفعولُ په ضمه د لام چه مستعمل دي د فاعیلُ په ځای راغي . دادستور د عروضیان مستعمل دغیر مستعمل په ځای اینبوشي بیا مخروب نومي (۱) دارکن .

قصر- په لغت کښې کوتاه کول دي ، او په اصطلاح کښې اسقاط دي دثاني

---

(۱) نومي یعنی نومېږي

او اسکان دی د اول له سببه چه وی دی په آخر رکن، لکه لُن چه دی
په مفاعیلن کښی نون ترې واخلې، لام ساکن کړې مفاعیل شی، هلته پاتې دغه
رکن مقصور نومی.

طی – په لغت نغښت دجامې دی. او په اصطلاح کښی اسقاط دڅلورم دمستفعلن دے
مستعلن شو، باقی پاتې مفتعلن یې په ځای راوړې او دې رکن ته مطوی عروضیان
وایی.

حذف – وایی په لغت کښی هغه اس ته چه لکۍ یې وی پرېکړې. او په اصطلاح
کښی اسقاط دسبب خفیف دی له آخره دارکان، لکه ته مفاعیلن کړې مفاعی،
فعولن یې په ځای راوړې. ودې رکن ته محذوف عروضیان وایی.

ثلم – په لغت رخنه کېده دی، په اصطلاح کښی اسقاط د ف دفعولن دے
عولن چه شی ترې پاتې فعلن یې په ځای راوړې، اثلم نومی دارکن.

تشعیث – په لغت کښی د وېښتو پرېشانول دی. او په اصطلاح کښی اسقاط
دمتحرک له هغو دوو متحرک دوتد د فاعلاتن دی چه فاعاتن یا فالاتن بهٔ شی
ترې پاتې مفعولن یې په ځای راوړې.

ابتر - په لغت کښې ابتر وایی وناقص ته او په اصطلاح کښې اسقاط دوتدی
چه مجموع وی لکه فعولن چه لن کړې لفظ فع یې په ځای راوړی .
خبل - په لغت کښې تباه کېدل دی . او په اصطلاح کښې اسقاط د ف دی
له مستفعلن لکه داعمل په طی کښې هم مونده شی .
مجزوع - جزع پوزه پرېکول دی په لغت کښې . او په اصطلاح کښې اسقاط
ددووسببو ، بل اسکان د ت د مفعولات دې هم ورسره وینه تنها
لات چه به شی پاتې فاع د ده په ځای کښې کېږده .
ترفیل - په لغت کښې یون کول اولمن اوبوده کول دی ، او په اصطلاح کښې
زیادتی ده د سبب چه وی خفیف پروتد باندی چه مجموع وی ، او دا زیادتی ده
په هغه جز چه دی آخر وی لکه مستفعلن چه مستفعلاتن یې په ځای کېږدی .
تشکیل - تشکل په لغت کښې داس وړاندې وروستو پښې تړل دي ، او په
اصطلاح کښې اجتماع دخبن کف ده لکه الف د فاعلاتن په خبن لاړشی او
په کف سره نون پریوزی فعلاتُ په ضمه د ت شی پاتې . دغه رکن
په مشکول سره یاد یږی . دا ړوبې صورت یې لاړشو لکه اسه هغه ړوبې

رفتار چه لا لمړ شي .

جحف : په لغت کښې له جا مې څخه پرېکول دي ، او په اصطلاح کښې دې ته وايي چه فاعلاتن و اخلې مخبون کړې فعلاتن ورڅخه راشي . بيا فاصله ځنې کړې لرې تن شي پاتې فع په ځای د تن کښې را ولړې .

ثنا خدای له درود نبي له هم يې آل اصحاب له .

فصل دی په بيان کښې دابحارو .

اول بحر له ابحارو چه عامه دي هغه نومې بحر هزج ، په لغت کښې هزج دي هغه آواز په ترنم سره چه کېږي . هم مرغوب د طبع دي وي . عرب د هر ځله په دا بحر اشعار په سرود وايي . بيا دا هزج دي په ډېر قسم راغلی .

اول قسم د هزج مثمن دي چه سالم وي له زحافه .

هزج مثمن سالم مفاعيلن دي اته واره په هر بيت کښې ، په مصراع کښې څلور ځله مثمن نومې په دا چه پر اته رکنه راغلی . بيا سالم نومې په دا چه کل ارکان يې واړه خلاص دي له زحافه . زده کړه اوس مثال يې دا دی :

محامد حق له دي ثابت چه دي خالق د کل اشيا   يقين واثق په دا تل دي چه دي محيي د کل احيا

ته په دا ترا تقطیع کړه :

محامد حق مفاعیلن له دی ثابت مفاعیلن چه دی خالق مفاعیلن۔
دکل اشیا مفاعیلن یقین واثق مفاعیلن په داتل دی مفاعیلن چه دی محیے
مفاعیلن دکل احیا مفاعیلن .

هزج مثمن مقبوض مفاعلن دی، اته واره په هر بیت کښی مثال :

صلوٰة سلام دې وی په تا رسول کریم د حق اله

په داترا دې وی په آل چه دی مدام زمونږ پناه

هزج مثمن مسبغ : مفاعیلن مفاعیلن مفاعیلن مفاعیلان ، دوه ځله
په هر بیت کښی مثال :

عطا تکریم د حق سبحان خطا تقصیر له ما هر آن

متین تواب په دین دنیا کریم رزاق په هر هر شان

هزج مثمن اخرب : مفعولُ مفاعیلن مفعولُ مفاعیلن چه په بیت کښی دی
دوه ځله . بیت :

خوشرنګ چه دباغ ګل دی بلبل په چغار تل دی شبنم چه په ګل اوری هردم یې جمال بل دی

هزج اخرب مکفوف مقصور: مفعولُ مفاعیلُ مفاعیل مفاعیلْ مثال:

سور ګل چه سحر وخت په جمال ستا کړ نسیم خور
بنایست د دې ګل بل کړ د بلبل په لمن اور

صدر ابتدا پکښې اخرب دی، او حشو پکښې مکفوف، عروض ضرب پکښې مقصور دی.

هزج مثمن اخرب مکفوف محذوف: مفعولُ مفاعیلُ مفاعیلُ فعولن.

مثال:

عاشق که په تصدیق سره طالب د حبیب وي
هر دم به یې وصلت بنه په خلوت کښې نصیب وي

صدر ابتدا پکښې اخرب دی او حشو پکښې مکفوف، عروض ضرب پکښې محذوف دی.

زده کړه که ته جمع کړې وروستي دوا لس بحرونه د غه بیت به د ې بیرون نه شي له وزنه، هم هسې په هر ځای کښې چه تغیر پکښې نور نه وي مګر هو مره چه آخر به دیوه وي مفاعیلْ چه په سکون د لام سره وي او د بل آخر به فعولن وي.

تغیر یکښ نور نوي مګر هغه بر چه آخر بند بوه وي

مفاعیل چه بسکون د لام سره وي او د بل آخر ب

فعولن وي ه هزج مثمن مکفوف مقصور مفاعیل

مفاعیل مفاعیل مفاعیل په بیت کښ چه دو ځل

مکرر شي ه مثال که عاقل یې پلاس واخل په دنیا د بقا

کار و په دنیا کښ لا دنیا پکنار اوس هزاره باره هزج مثمن

مکفوف محذوف مفاعیل مفاعیل مفاعیل

فعولن مثال که خوي په دنیا کښ عمارت لک

غروي ه یا آخر بې پدرنګ د کور خاوره پسر وي

هزج مسدس سالم مفاعیلن مفاعیلن مفاعیلن

بیت

شکر کان دي شکر کوي دي شکر خوي هم ه سمن

بردي سمن روي دي سمن بوي هم ه هزج

مسدس مکفوف محذوف مفاعیل مفاعیل

فعولن مثال ودانی د د دنیا د ورانی ه ورانی

هزج مثمن مکفوف مقصور : مفاعیلُ مفاعیلُ مفاعیلُ مفاعیلْ ، په هر بیت کښې چه دوه ځله تکرارشي . مثال :

که عاقل یې په لاس واخله په دنیا د بقا کار
په دنیا کښې له دنیا په کنار اوسه هزار بار

هزج مثمن مکفوف محذوف : مفاعیلُ مفاعیلُ مفاعیلُ فعولن ، مثال :

که هر څو یې په دنیا کښې عمارت لکه غروی
په آخر بې په دې رنګه د کور خاورې په سروی

هزج مسدس سالم : مفاعیلن مفاعیلن مفاعیلن ، بیت :

شکر کان دی شکر کوی دی شکرخوی هم
سمن بر دی سمن روی دی سمن بوی هم

هزج مسدس مکفوف محذوف : مفاعیلُ مفاعیلُ فعولن ، مثال :

ودانی د دې دنیا ده ورانی
ورانی د دې دنیا ده ودانی

تقطیع : ودانی د مفاعیلُ دې دنیا ده مفاعیل ورانی فعولن .

بحر رجز مثمن سالم : رجز په تقديم د (ر) چه مهمله وی په لغت کښی په معنی د اضطراب او سرعت دی. عرب دہر ځله په جنګ او په اظهار د تفاخر کښی په دا بحر اشعار وايی. په دا وخت کښی چه هر کوره اضطراب او سرعت دہروی ځکه دا بحر په رجز سره نومی . بعضی وايی چه د رجز اطلاق شی په شتر باندې چه په تلو کښی دی لړزېږی . هسی شان چه کله ځی کله ودرېږی . او په اول دارکان ددې بحر کښی سبب دی چه خفيف دی هم اول يې حرکت دی بيا سکون دی په دا لړ مناسبت سره په رجز دی نومېږی . او اصل ددې بحر مستفعلن دی څلور ځله په مصراع کښی، اته ځله په هر بيت کښی ، مثال :

عاشق په دل بل اور لری دايم په واويلا چه وی

درمان لری دوری د خلق عاشق د حق مولا چه وی

تقطيع : عاشق په دل مستفعلن۔ بل اور لری مستفعلن۔ دايم په وا مستفعلن۔ ويلا چه وی مستفعلن . درمان لری مستفعلن۔ دوری د خلق مستفعلن۔ عاشق د حق مستفعلن۔ مولا چه وی مستفعلن

رجز مثمن مذال : مستفعلن مستفعلن مستفعلن مستفعلان ، دوه ځله په هر بيت کښی .

مثال : رحمان رحیم مولا چه دی قادر قدیر هر آن زمان
غفار غفور مخلوق له دی معطی د نیک امن و امان

رجز مسدس سالم : مستفعلن دری ځله په مصراع کښی ، مثال :

زیبا په نم چشمان لری عشاق سحر
شبنم لری زیبا د گل اوراق سحر

تقطیع : زیبا په نم مستفعلن - چشمان لری مستفعلن - عشاق سحر مستفعلن - شبنم لری مستفعلن - زیبا د گل مستفعلن - اوراق سحر مستفعلن .

رجز مسدس مخبون : مفاعلن په هره مصراع کښی په دری ځله .

مثال :

په هر عمل چه دی طلب له تا حساب
په نیک عمل دی وی په ځای له تا ادب

رجز مسدس مطوی ، مفتعلن ، دری ځله په مصراع کښی ، مثال :

ځان که و مرضیٰ ته دیار تکړه تیار
ژر به قدم کښیږدی په دربار کښی دیار

زده کړه چه دا رجز چه مسدس دی هم مجنون دی او هزج مثمن چه دی مقبوض دی په ارکان کښې دوی دواړه سره یو دی مگر هو مره چه دا هزج په یوه رکن له ده زیات دی .

زده کړه ای چشمان غزال همیشه او سه خوشحال .

که یو بحر وی له دوو بحرو راغلی چه له کوم یوه را وړل دده اسان وی بهتر دا دی له هغه دې دې را وړه شي شک نشته په دا کښې چه را وړل د مفاعلن له مفاعیلن آسان دی له را وړو د مفاعلن له مستفعلن هم په دا سبب له هزج مثمن شو او له رجز مسدس شو .

فصل دی په بیان د هغه بحر چه په رمل دی نومېږی .

رمل په لغت کښې پوزی او دل دی . په دا بحر کښې اسباب دی په او تاد کښې راغلی هم او تاد دی په اسبابو کښې راغلی . دا دواړه اصل کو یا دی سره او دلی ځکه دی رمل نومېږی .

بعضی وایی رمل قسم د سرود دی په دا وزن دی راغلی .

بعضی وایی رمل په فتحه د « ر » د « میم » او په سکون د لام چه یې وایی

په لغت کښې دو یه ن داو بس ته وایي. ددې بحر په ویل شتابي کېږي ، ځکه دی رمل نومېږي. بیا اصل ددې بحر دا اته فاعلاتن دي چه سالم دي له زحافه ولې دي دی له ابحارو شکسته ؤ ځکه ماېې دا مثال نه دی راوړی.

رمل مثمن مخبون مسبغ : فاعلاتن فعلاتن فعلاتن فعلییان دوه ځله په بیت کښې صدر ابتدا پکښې سالم دی او حشو پکښې مخبون عروض ضرب پکښې مخبون هم مسبغ دی، مثال :

ګل د نرګس چه همیش مست په چمن ستا په ثنا دی
دی په داشان ځکه څرګند په جمال خپل په غنا دی

تقطیع : ګل د نرګس فاعلاتن - چه همیش مست فعلاتن - په چمن ستا فعلاتن - په ثنا دی فعلییان - دی په داشان فاعلاتن - ځکه څرګند فعلاتن - په جمال خپل فعلاتن - په غنا دی فعلییان.

او که صدر ابتدا پکښې مخبون کړي هم جوړېږي.

بحر رمل مثمن مخبون فقط ، په دا بحر کښې اته فعلاتن دي. مثال :

که قمر نور د جهان دی که سمن بر د جنان دی همه پر تو د جمال ستا چه آثار ستا ترې عیان دی

تقطیع : که قمر نور فعلاتن - دجهان دی فعلاتن - که سمن بر فعلاتن - دجهان دی فعلاتن

همه پرتو فعلاتن - دجمال ستا فعلاتن چه اثار ستا فعلاتن - تری عیان دی فعلاتن .

که دا صدر ابتدا کښی سالم شی باکی پی نشته عجب وزن تری جوړ بړی .

بعضی وایی هغه رمل چه مجنون دی په مصراع کښی اته رکن هم راغلی .

اوس یې وا وره دا مثال :

همه انوار دجلال جاه دجمال ستا په سما پاس

چه له افتا به هویدا هسی انوار دقمر دی

که په قد سرو صنوبر که په مخ دی دقمر شان

هغه گویا په ثنا ستا لکه بلبل د سحر دی

PROPERTY OF ACKU 2963

تقطیع : همه انوار فعلاتن - دجلال جاه فعلاتن - دجمال ستا فعلاتن - په سما پاس فعلاتن

چه له افتا فعلاتن - به هویدا فعلاتن - هسی انوار فعلاتن - دقمر دی فعلاتن .

که په قد سر فعلاتن - وصنوبر فعلاتن - که په مخ دی فعلاتن - دقمر شان فعلاتن

همه گویا فعلاتن - په ثنا ستا فعلاتن - لکه بلبل فعلاتن - دسحر دی فعلاتن .

رمل مثمن مشکول : فعلاتُ فاعلاتن ، په هر بیت کښی څلور ځله .

يعالمر ستا صفات ٭ تقطيع کل د بستان فاعلاتن دي
علامت فاعلاتن دي ستا ذات فاعلات کاند
اظهار فاعلاتن تل يعالمر فاعلاتن ستا صفات
فاعلات ٭ عروض ضرب يکښ مقصور دي
رمل مسدس مخبون مقصور فاعلاتن فعلاتن
فعلات ٭ مثال وي دوارده نبي پاک صلوات
هم پال کل همه ماوي دنجات ٭ صدر ابتدا يکښ
سالم دي او حشوه يکښ مخبون عروض ضرب
يکښ مخبون دي هم مقصور دي ٭ فصل دي
په بيان د تفکيک د دروار بحرون زده کولکښ
وار بحرون دا دروار ارکان چه مفاعيلن مستفعلن
فاعلاتن دي مرکب دي لوتر چه مجموع دي
اول د دواد سبون چه خفيف دي پس حرکات
او سکنات د د دروار بحرون برابر دي پس
خلور رکن ده يو چه واخلات و يشت حرف

مثال :

که په مخ د ګل په شان دی که په لب د لعلو کان دی
په چمن د کائنات تل همکی له تا عیان دی

رمل مثمن مخبون مقصور : فاعلاتن فعلاتن فعلاتن فعلات .

مثال :

ګل څو خندا که د شبنم په ژړا وخت د بهان
او سه نازل صلواة تل په نبی بهٔ د جهان

صدر ابتدا یکښې سالم دی او حشو یکښې مخبون دی راغلی ، عروض ضرب یکښې مقصور دی .

رمل مثمن مخبون محذوف : فاعلاتن فعلاتن فعلاتن فعلن ، مثال :

آل و اصحاب چه دی دین له په مانند د قمر
وی دې مورد د عطوفاتُ په هر شام و سحر

رمل مسدس : فاعلاتن فاعلاتن فاعلاتن ، چه دوه ځله وی په بیت کښې . د ترک وجه د مثال په مثمن کښې بیان شوې .

رمل مسدس مقصور : فاعلاتن فاعلاتن فاعلات ، مثال :

مکمل دبستان دی علامت دی ستا د ذات

کاندي اظهار تل په عالم ستا صفات

تقطیع : مکمل دبستان فاعلاتن ، دی علامت فاعلاتن یستا د ذات فاعلات .

کاندي اظهار فاعلاتن - تل په عالم فاعلاتن یستا صفات فاعلات .

عروض ضرب پکښې مقصور دی .

رمل مسدس مخبون مقصور : فاعلاتن فعلاتن فعلات ، مثال :

وی دې وارد په نبی پاک صلوات

هم په آل کل همه ماوی دنجات

صدر ابتدا پکښې سالم دی او حشو پکښې مخبون ، عروض ضرب پکښې مخبون دی هم مقصور دی .

فصل دی په بیان د تفکیک د دریې وایه وبحرونو .

زده کړه له دې دریې وایه وبحرونو ، دا دریې وایه ارکان چه مفاعیلن مستفعلن فاعلاتن دی مرکب دی له وتد چه مجموع دی او له دوایه وسببونو چه خفیف دی

پس حرکات او سکنات ددي دري واړه وبحرونو برابر دی. پس څلور رکنه دهر یوه

چه واخلې اته ویشت حرفه واړه کیږی.

شپاړس حرف یکښی کل متحرک دی او باقی یکښی ساکن دی. پس دا اته ویشت

حرفه که په خط ددائرې باندې مرقوم کړې، ابتدا په وتد وکړې چه مجموع دی په دویم

سبب خفیف چه یې تمام کړې بحر هزج ترې حاصلیږی.

او مفا که څنې پرېږدې ته شروع په عیلن وکړې پر مفا یې بیا تمام کړې

بحر رجز ترې حاصلیږی چه پر وزن دڅلور مستفعلن دی.

او که ته دا مفاعی ورڅخه پرېږدې او په لن آغاز یې وکړې پر مفاعی چه یې تمام

کړې بحر رمل ترې حاصلیږی.



څوک چه وایي چه دا درې واړه ابحار

له یوې دائرې څېرې هغه دی په داترا لکه مې تاته

بیان وکړ. دې هزرو ته هم فک او تفکیک وایي

دبحرونو. په لغت تفکیک زده کړه یو له بله پرانستل دی

او صورت ددایرې په داترا دی نظر وکړه.

مجتلبه په فتحه دلام نوم د دایرې دی .

زده کړه ! اجتلاب په لغت کښې و بل د یو شیز دی له مکانه بل مکان ته.

دا ابجارچه دی په دې کښې وایه دی اخیستی له مغونورو درې ابجاروچه به تاته

بیانیږی . هزج مأخوذ دی له طویل، هسې رجز له بسیط، هسې رمل له مدیده .

بحر منسرح : زده کړه ! انسراح روانیده او اسانیده دی په لغت کښې، لکه اسباب

مقدم دی په اوتاد په اسانه وجه دی زر اداکیږی . او اصل د دې بحر مستفعلن مفعولاتُ

څلور ځله په ضمه د ت را دروی .

من یشتری البا زنجان په دا وزن دی راغلی . چه دا اصل شکسته ؤ ځکه یې

ترک مثال کړه .

بحر منسرح مثمن مطوی موقوف : مفتعلن فاعلان څلور ځله په هر بیت کښې دا مثال یې

درته وایم . مثال :

ما په چمن کړه مقام کړه د چمن ستاسپاس

مست ؤ چمن ستا په جام جام ؤ د هر گل په لاس

تقطیع : ما په چمن مفتعلن- کړه مقام فاعلان- کړه د چمن مفتعلن- ستاسپاس فاعلان-

مست وچمن مفتعلن - ستا په جام فاعلان - جام و دهر مفتعلن - ګل په لاس فاعلان .

رکن اول و ثالث پکښې مطوی دی ، ثاني او رابع پکښې موقوف دی هم مطوی دی

ت په وقف شوه ساکنه واو په طی سره محذوف دی مفعلات ورځني راغی مستعمل

چه فاعلان ؤ په بدل د مفعلات کښې دلې راغی .

مستفعلن چه مطوی شي مفتعلن شي مفعولاتُ په ضمه د تا چه موقوف شي هم مطوی

شي فاعلان شي .

منسرح مثمن مطوی مکسوف : مفتعلن فاعلن په هر بیت کښې له دې قسم څلور ځله ، د امثال

یې در ته وایم :

ای چه د معراج په سیر عرش چه چمر دی له تا

هم چه په اعجاز د غیر شق د قمر دی له تا

اول او ثالث رکن پکښې مطوی دی . ثاني او رابع پکښې مکسوف دی هم مطوی دی .

حذف د سابع متحرک کسف نومیږی .

منسرح مثمن مطوی منحور : مفتعلن فاعلاتُ مفتعلن فع دوه ځله په بیت کښې د امثال

یې در ته وایم : عفوه کرم تاله دینه ماله خطاتل + ماله خطاتل چه دینه تاله عطاتل

بحر په لغت کښې د مرۍ پرېکول دي. او په اصطلاح کښې غورځول د دوا ېو سببونو او د ت د مفعولاتُ دي، مف شي پاتې فع چه اول جز دی له میزان په هغه ځای د مف اېښودلې شي چه دا دواړه سببونه هم سره له ت چه لاړه کو یا پرېکړ شوه د دې رکن مرۍ دی هلاک شو. په دا بیت کښې عروض ضرب دواړه منحور دي.

بحر مضارع: په لغت کښې مضارع مشابهت دی، چه اوتا دې مقدم دي په اسباب مشابه دي دی له هزج چه په هزج کښې اوتاد هم مقدم دي پر اسباب، په دا وجه مسمّٰی په مضارع دی.

بعضې وایې مضارع مشابهت لري له منسرح، هغه وجه یې او سړابیانیلی خلاصه یې اشتمال دی په وتد مفروق باندې په ثانی جز کښې راغلی.

مضارع مثمن اخرب: مفعول فاعلاتن: څلور ځله واوره دا مثال:

بیلتون نصیب زما دی قدرت د کردګار دی

بندي په بند د هندیم مولد مې ننګرهار دی

تقطیع: بیلتون مفعو- نصیب لُفا- زما دی علاتن- قدرت مفعو- د کر لُفا- دګار دی علاتن- بندي په بند مفعولُفا- د هندیم علاتن- مولد مې ننګ مفعو لُفا-

رہاردی علاتن ۔ ا

ہغہ حرف چہ علامت د حرکت وی ہیڅ اعتبار ورلرہ نشتہ لکہ ی دہ پس لہ میمہ پہ کلام کښی چہ مولد می ننګرہاردی ۔

او اصل د دې بحر مضارع مفاعیلن فاعلاتن دی څلور ځلہ لہ ابحار شکستہ دی راغلی ځکہ ما یې ترک مثال کړہ ۔

مضارع اخرب مکفوف مقصور : مفعول فاعلاتُ مفاعیلُ فاعلاث ، مثال :

څو وی سحر د نسیم تل پہ ګل خرام
داہو مرہ بہ وی تل پہ نبی پاک صلوٰۃ سلام

تقطیع : څو وی س مفعولُ ۔ حر سحر د فاعلات ۔ نسیم تل پہ مفاعیل ۔ ګل خرام فاعلات ۔ دا ہو مرہ مفعول ۔ بہ وی تل پہ فاعلات ۔ نبی پاک ص مفاعیل ۔ لوٰۃ سلام فاعلات ۔

مضارع اخرب مکفوف مسبغ ۔ مثال :

انہار د ننګرہار لرہ جریان پہ ہر نہار دی
ګردی پہ ننګرہار لکہ سور ګل دلنو بہار دی

وزن: مفعولُ فاعلاتُ مفاعیلُ فاعلیان .

بحر مقتضب: اقتضاب په لغت کښې قطع کول دیو څیز له بل څیزه . او دا بحر قطع شوی دی له بحر منسرح، دا ارکان د دواړو یو دی مګر هو مره چه تغییر یې په ترکیب او په ترتیب کښې دی راغلی. مفعولاتُ مستفعلن مفعولاتُ مستفعلن .

د مقتضب اصل هم دا له عروضیانو دی راغلی . له اجاره وشکسته ؤ ځکه ما یې ترک مثال کړ .

مقتضب چه مطوی لری څلور واړه ارکان هغه دا دی:

فاعلاتُ مفتعلن فاعلاتُ مفتعلن: دا مثال د ده راغلی، بیت:

مخ په نوبهار د سمن زیب که هر زمان په چمن
عندلیب له تا په سحر حمد که رنګ په رنګ په دهن

تقطیع: مخ په نوب فاعلات - هار د سمن مفتعلن - زیب که هر ز فاعلات - مان په چمن مفتعلن - عندلیب له فاعلات - تا په سحر مفتعلن - حمد که رنګ په فاعلات - رنګ په دهن مفتعلن .

اصل د بحر سریع: مستفعلن مستفعلن مفعولاتُ .

په لغت کښې دا سرعت تلوار کول دی. هر کله چه اسباب دده غالب وو پر او تا د
په سرعت سره وایه شی ځکه نوم دده سریع دی. له ابحارو شکسته وېلې دا اصل دی
راغلی ځکه ماپې ترک مثال کړ.

بحر سریع مطوی موقوف: مفتعلن مفتعلن فاعلان. مثال:

څو چه عباد کاندی دحق رب سجود
وی دې په افضل دخلایق درود

تقطیع: څو چه عبا مفتعلن. کاندی دحق مفتعلن. رب سجود فاعلان. وی دې په اف
مفتعلن. ضل دخلا مفتعلن. یق درود فاعلان.

مستفعلن چه طی شو مستعلن راغی، مفتعلن چه مستعمل و په بدل د مستعلن راغی، او هم هسې
له مفعولاتُ و په طی سره چه لاړ شو او اسکان د ت په وقف سره راغی مفعلات شو، فاعلان
چه مستعمل و په بدل د هغه مفعلات کښې راغی.

عروض ضرب پکښې مطوی دی هم موقوف دی او باقی ارکان مطوی دی نور څه نه دی.

بحر مجتث: اصل د دې بحر مستفعلن فاعلاتن مستفعلن فاعلاتن دی، له ابحارو شکسته وېلې
دا اصل دی راغلی ځکه ماپې ترک مثال کړ.

و دی بحر ته مجتث وایی په دا چه په لغت کښی اجتثاث له بیخه کنو دل دی ،

او مسدس دی له دی بحر چه مستفعلن فاعلاتن فاعلاتن دی اخیستی شوی له خفیف عروضیان

پکښی خو دا هو مره څه وایی .

بحر مجتث مثمن مخبون : مفاعلن فعلاتن مفاعلن فعلاتن ، مثال :

ثنا ده تا له په هردم چه نښته ذات له دی ثانی

بقاده خاص په تا رب سوی له تا همه فانی

تقطیع : ثنا ده تا مفاعلن - له په هردم فعلاتن - چه نښته ذات مفاعلن - له دی ثانی فعلاتن -

بقاده خا مفاعلن - ص په تا رب فعلاتن - سوی له تا مفاعلن - همه فانی فعلاتن .

دا همه واړه ارکان یی مخبون دی پکښی بل څه زحاف نښته .

مجتث مخبون محذوف : مفاعلن فعلاتن مفاعلن فعلن ، مثال :

صلوة سلام دی مدام وی په پاک نبی د آله

په سخت زمان چه به وی دی شفیع زمو بږ د گناه

عروض ضرب پکښی مخبون دی هم محذوف دی .

بحر قریب : اصل د دی بحر چه مسمّی دی په قریب مفاعیلن مفاعیلن فاعلاتن دی چه قربت لری

له هزج او له بحر مضارع نحکه دی په قریب نومی او دا بحر له ابحار مستحدثه ؤ وی راغلی.

او دې بحر ته غریب په غین معجمه سره هم وایی.

او دا بحر له مخترعاتو د مولانا یوسف نیشاپوری دی چه له اوله په فارسی کښی عروض ده دی تصنیف کړی.

لکه اول چه په پښتو کښی دې فقیر دی ظاهر کړی.

چه دا اصل د دی بحر شکسته ؤ نحکه ترک یې ما مثال کړ.

بحر قریب مکفوف: مفاعیلُ مفاعیلُ فاعلاتن، مثال:

که هر څو د قمر رخ چه بې بها دی

د یار رخ لکه خورشید قمر سها دی

مفاعیلن چه مکفوف شی مفاعیلُ په ضمه د لام شی پاتې.

عروض ضرب پکښی سالم دی نور همه پکښی مکفوف دی.

بحر خفیف دی په دا ترا چه له همه واړه وابحار وخفیف دی دی چه اسباب خفیفه دی محیط شوی دهمه واړه ارکانو په او تا دو هم په دا سبب ارکان د ده سپک شوی.

بعضی وایی چه خفیف په دا سبب ورته وایه شی، هغه نوم چه پکښی د بر نو مو نه راشی

په هیڅ بحر نه راد رومی او په ده کښي هغه اسم راکښېوزی .

او هغه اصل ودي بحر خفیف وادی : فاعلاتن مستفعلن فاعلاتن .

له ابجاروشکسته ودی راغلی ځکه ماپي ترک مثال کړ .

بحر خفیف مخبون محذوف : فاعلاتن مفاعلن فعلن ، مثال :

رب دي غفور په د بر کرم که شرف

نیک زمان دي په بد عمل که تلف

مستفعلن چه مخبون شی مفاعلن شی ، فاعلاتن چه مخبون محذوف شی فعلن شی .

خفیف مخبون مشعث ، فاعلاتن مفاعلن مفعولن مثال :

وی به خوشبوی شاخ ریحانی

وی که شاغل په ذکر سبحانی

خفیف مجوف مخبون ، فاعلاتن مفاعلن فع بیت ،

څو سما عرش وارض قیام وی

پر نبی پاک دي عرض سلام وی

بحر مشاکل : اصل دي بحر فاعلاتن مفاعیلن مفاعیلن دی مثال ،

هرچه لایق د اکرام دی په اسلام دی

منکرین واړه مستغرق په اوهام دی

مشاکل مکفوف مقصور: فاعلاتُ مفاعیلُ مفاعیلْ ، مثال :

تل دې وی په نبی پاک صلوة کُل

هم دې وی دده امت په نجات تل

او دا بحر مشاکل نومی په دا چه دی په شکل د هغه بحر قریب دی مگر هومره چه فاعلاتن

دلته د وبی هلته وروستی دی .

بحر متدارک : تدارک په لغت کښی بیا موندل دی . دا بحر چه اسبابویې او تا دواړه

موندلی ځکه دی متدارک عروضیان بولی .

بعضی وایی ابوالحسن اخفش دا بحر دی له فکره ده را وړی چه پیوست یې کړ دا بحر

په هغو واړه وبحرونو چه خلیل ابن احمد وو پیدا کړی همه واړه د مولا په اراده وو متدارک

یې نوم دی ایښی .

او اصل ددې بحر فاعلن دی څلور واره په مصراع کښی اته واره په هر بیت کښی .

له اجاره ؤ شکسته ؤ دی راغلی ځکه ترک دده مثال دی .

متدارک مخبون مثمن : فعِلن فعِلن فعِلن فعِلن، مثال :

په سحر چه نسیم که سرو رد حیات
په نبي دی دحق که سلام صلوٰت

بحر متقارب: دا دې بحر نوم متقارب په دا سبب دی چه اوتاد اسباب و بله نژدې حه پر وتدې له سببه پیوندشوی.

په لغت کښې تقارب نژدې کیت دی.

اصل د دې بحر فعولن دی څلور ځله په مصراع کښې چه دا اصل شکسته ځکه ترک یې او س مثال دی.

متقارب مقصور: فعولن فعولن فعولن فعول، مثال :

سحر دی په قدرت د پروردگار
په خندا د گلزار د بلبل چغار

متقارب اثلم: فَعْلن فعولن فَعْلن فعولن، مثال :

ځو وی په آسمان گردش د آفتاب
مرحوم دې وی حضرت آل و اصحاب

بحر جدید: اصل ودې بحر چه جدید دی. فاعلاتن فاعلاتن مستفعلن دی. له اجارو شکسته ؤدی راغلی ځکه ترک یې مثال کړ.

بحر جدید مخبون مسدس: فعلاتن فعلاتن مفاعلن. دوه ځله په هر بیت کښې.

مثال:

چه ثنا تا له جهان کاندې هر زمان
په کرم نیک لره ماتل په هر مکان

ودې بحر ته جدید وایی په دا چه دی نوی دی پیدا.
بعضې وایی چه دا بحر بزرجمهر دی له فکره ظاهر کړی.

تمت العروض

بخط خال محمد خسته ۲۳ میزان ۱۳۴۴ شمسی

پلتنه او سپړ دنه

مونږ د پښتو عروض په څنګ کښې غواړو چه خپله پلتنه او سپړدنه هم په لنډ دول ورسره یو ځای کړو. دغه پلتنه اوسپړدنه دوه برخې لری.

لومړۍ برخه د ښودنی او پیژندنی برخه ده او بله برخه په خپله د کتاب د سپړدنی برخه ده چه په عربی تعبیرورته تحشیه او تعلیق وایی.

لومړۍ برخه

د پښتو عروض قلمی نسخه:

دغه کتاب دیوې وړې قلمی نسخې له مخه نقل شوی دی. دغه نسخه څو کاله پخوا مولوی ابوالوفا کندهاری دهند له حیدر آباد څخه پښتو ټولنی ته رالیږلې وه مگر تراوسه پوری همداسې پرته وه او د کوم پلټونکی سترگې وربانده نه وې لگېدلې. له ښه مرغه چه یوه ورځې د پښتو ټولنی د قلمی نسخو د لټونی په لړ کښې وربانده زما سترگې پریوتلې، په ډیره مینه می دغه قیمتی نسخه کښېنته پورته و لټوله او سم لاسی مو دهغې د چاپولو نیت وکړ.

په‌لږ وخت کښې دښاغلی خال محمدخسته په‌خط پاکنویس کړې‌شوه اوپس‌له سمو نی او کتنی څخه‌دچاپ ماشین‌ته‌ولېږل شوه‌چه‌دادی‌اوس په‌دیره‌مینه دپښتوژبې پوهانو او مینانو ته دیوې ښکلی مرغلری په تو گـه وړاندی کېږی. دغه قلمی نسخه (٤٣)مخه‌ده په‌هرمخ کښې (١٤) کرښی دی، یوازی وروستی مخ‌دوه کرښی لری. په‌خړ بخن کاغذپه‌توره‌سیاهی په‌عربی‌دوله خطیعنی نسخ‌لیکل‌شوې‌ده. دمخ‌اندازه‌یې ٢٠×١٠سانتی‌ده.

لیک‌دودیې تر ډیرې اندازې سم‌اوپوخ‌دی. داسی ښکاری‌چه‌د کوم پوه‌لیکونکی په‌قلم‌ښکل شوې‌ده. مگرله‌بده مرغـه چه‌ددغې قلمی‌نسخې دلیکـلو نیټه اود لیـکو نـکی نوم‌دواړه نا معلوم دی او له‌کتاب څخه نه‌څر گند یږی.

لیک دود :

دغه‌نسخه په‌عربی‌دوله خط لیکل‌شوې‌ده، مگر دپښتو درسا لیک‌دود خیال‌پکښې‌ساتل‌شوی‌دی. ددې‌نسخې‌لیک‌دودددپښتو دنوروزړوقلمی نسخو له‌لیک‌دود څخه کوم‌خاص‌تو پیرنه‌لری، یوازی‌په څینو تکو کښې لږڅه بیلتون‌لری چه‌دادی څینی‌دولونه یې‌په‌وروسته دول‌ښودل کېږی.

١ـ چه کله‌په(ی)چی لیکی.

٢- ز، ښ، کړه‌اوسنی‌دول‌سم اورسا لیکی.

٣ـ کښ- بې(ی) لیـکی، دغه‌شان‌د(م، د) ضمیرونه‌هم‌بې(ی)لیکی.

٤ـ دارتباط توری له بلی کلمې سره نښتی لیکی لـکه پخندا ، لفکره چه

اوس داسی لیکل کېږی: په خندا، له فکره .

۵- دهومره، ږومبی کلمې په دې ډول لیکی: هنمبره، وږنبی .

۶- ځ دڅ په شان لیکی لکه: څکه = ځکه .

۷- دزور اوزیر پرځای تـوری نه راوړی لـکه (په دشان) چه اوس (په دې شان) لیـکل کیږی .

د میاشرف پیژندنه

میاشرف دپښتو ژبی یو خوږ شاعر تېر شوی دی. تراوسه پورې مونږ دده له شعرونو سره پوره آشنانه وو، ځکه چه شعرونه یې لاس ته نه وو راغلی کوم وخت چه ښاغلی همیش گل همیش دورکی خزانې په دوهم ټوک کښې دده څو غزلونه خپاره کړل نو دپښتو پلټونکو پام وروگـرځېد. ولی چه دمیاشرف په شعرونو. کښې سربېره په ناز کخیالی او خوندیو بل خصوصیت هم موجودې چه هغه دعربی عروض په بحرونو دده دشعرونو برابریدل دی .

ښاغلی همیش دورکی خزانې په دوهم ټوک(۱) کښې لیکلی دی چه دشرف سم حالات دزمانې په تیرو کښې ورک دی. دا خبره سمه ده خو دده لـه شعرونو څخه مونږ ته دومره معلومېـږ ی چـه داحمد شاه بابا همعصراو ددولسمی هجری پېړۍ ددوهمی برخی یو منلی شاعر دی. کوم معلومات چه زمونږ لاس ته راغلی دی هغه به په وروستو کرښو کښې ښاغلو لوستونکو ته وړاندې شی .

۱- دورکی خزانې دوهم ټوک په ۱۹۶۳ع کال په پیښور کښې چاپ شوی دی .

دی دمیاشرف، ملاشرف اوشاشرف په نوموياد شوی دی .

مستررااورتی دخپل پښتو گرامرپه سریزه کښې شاشرف دجلال آبا د اوسیدونکی اودقیمتی آثاروخاوند بولی . دی‌لیکی چه دده‌دیوان دحمید له‌دیوان څخه جګ‌و. داهم‌وایی چه‌شاشرف عربی (قصیده‌برده) هم په پښتوترجمه کړې‌ده (۱)دراورتی له‌دغی یادونی څخه ښکاره‌یږی چه‌دده‌دشاشرف دیوان‌هم‌لیدلی وومگرله‌بده‌مرغه‌چه‌اوس‌یې دپوره‌دیوان څه‌پته نه‌لگیږی .

دپښتانه شعرااول ټوك‌په‌مأخذونو کښې‌دملاشرف‌چاپی (قصیدهٔبرده) هم‌راغلې ده‌چه‌په هند کښې چاپ شوې ده .

دمیاشرف له‌یوه‌شعر څخه‌داخبره ښکاره‌یږی چه‌دی‌دیر وخت‌په هند کښې اوسېدلی‌دی اوغالباً داحمدشاه‌بابا سره‌دپانی‌پت په‌جگړه‌او دمرتیانو په‌ماتی‌کښې ملگری و لکه چه‌وایی :

گډ شودهشت هسی وحشت دمراتېي په سپاه

تخت یې‌یولور ته‌راکوهم هسی بل‌لورته گولار

فتح نصرت چه په‌لاس ستا شوپه نفرت شوغلیم

منهزم هم هسی کفا رشود گنگا په کنار

په‌بل بیت کښې دډیلی یادونه اوهلته خپله هستوگه‌داسی‌یادوی:

مونږ په بازار کښې‌دډیلی تلوخپل مکان ته همیش

نورونور کار کړه‌دې‌ځای کښې په مونږباروه‌غله

۱- د کابل مجله ۲۲۹ گڼه ۲۵ مخ.

دیوبل غزل په یو بیت کښې د گردی کڅ نوم راوړی او په هند کښې دخپل تیکاو یادونه کوی.

د گردی کڅ (۱) سداسندی له مامبعوث چه شوم بندی
دهندوستان په د وولنبتو چه یو گنگادی بل جمنا

له یو بل بیت نه داسی بر یښی چه دی په هند کښې تنگ شوی وه نو له احمد شاه بابانه دوطن دتللو رخصت غواړی:

راکړه رخصت د وطن تل چه په فتن یمه زه
گوره کوم وخت چه به مات مات زړ گی زما کا قرار

مگر د میاشرف د پښتو عروض له کتنی څخه د اخبره پوره څر گنده شوه چه دي په اصل کښې دننگرهار د گردی او سېدونکی وه لکه چه وایی:

بېلتون نصیب زمادی، قدرت دکرد گاردی
بندی په بند د هند یم، مولدمی ننگر هاردی

په بل شعر کښې وایی:

انهار دننگرهار له جریان په هر نهار دی
گردی په ننگر هار لکه سور گل دنو بهاردی

ښایی چه مستر راورتی د علاقی او سیمی په لحاظ دی دجلال آباد بللی وي، چه دننگرهار مرکز دی. لکه چه دې خبری ته دقنبرعلی خان اورکزی (۱۲۰۷هـ) ددیوان په حاشیه کښې داسی اشاره شوې ده

۱ـ په ننگرهار کښې اوس گردی کڅ له سمرخیلو نه کوز کامی ته مخامخ یو ځای دی خو دهزار ونو نه کښته گردی هم ښایی چه په اصل کښی گردی کڅ وی.

(غزل قنبرعلی درجواب شاشرف توابع جلال آباد) له دې وړاندې بیتونو څخه دامطلب راوځي چه میاشرف په اصل کښې دننگرهاردگردی اوسېدونکی وء، بیاهندوستان ته تللی دی او هلته یې څه موده تېره کړې ده.

بل له پورتنی بیت څخه داخبره هم معلومېږی چه ده خپل دغه کتاب دپښتوعروض هم په هند کښې لیکلی دی دمیاشرف په باره کښې زمونږنور معلومات دپوهو کسانوله خولو څخه اوریدل شوی دی.

دمومند درې په تېرلو خلکو کښې داروایت موجوددی چه میاشرف دگردی دغوث (میانجیب الله) و روروء. و ایی چه ده په اول کښې دتجارت کارکاوه اوهندوستان ته به دسوداگری د پاره ته اوراته.

په کومه پېره کښې یې خپل ورور ته له هند څخه (سنگ پارس) راووړ. نوهغه ورته وویل: چه زمادگوتو په گوتو کښې مخامخ سیند ته وگوره! ـ ده چه وکتل دسیندتول کاڼي ورته سنگ پارس ښکاره شول نوهغه ورته وویل: چه ځان سنگ پارس کړه په دغه یوه کاڼي به څه وکړې؟ هغه وء چه په دې خبره دی بیا هند ته ولاړ خودا ځل یې فقیری غوره کړه، دښې ورځې څښتن شو، په آخر کښې خپل وطن ته راغی اودلته یې دفقیربابانوم وگاټه. دده مزاراوس دلالپورې نه لږبره په (سده) نومی کلی کښې دی اودفقیربابا په زیارت مشهوردی (۱)

۱ـ دښاغلی غلام نبی خان چکنوراو ملک جعفرخان کوداخیل روایت.

مگر بل روایت دادی چه دمیاشرف قبرد پېښوروپه (ترخه) کښې دی اودغه نقیر بابایې بل ورورد ی.

د میاشرف شعرونه :

دمیاشرف درې غزلونه ښاغلی همیش دورکسی خزانې په دوهم توك کښې رانقل کړی دی، مګراصلی مأخذ یې نه دی ښودلی ښایی چه له کوم قلمی جونګ څخه یې اخیستی وی .

دورکې خزانی درې غزلونه یې دادی:

(۱)

ای چه بلبل دعطاتل په چمن ستاکا چغار
رب دی تل تل د جزاګل په لمن ستا کانثار

څو فلك ملك وملك وی ته ملك ا وسه دملك
نګه ازلطف وعطاباشد په تایوم قرار

ګډشودهشت هسی وحشت دمراتهی په سپاه
تخت یې بولورته راکوهم هسی بل لورته ګولار

نصرت وفتح ظفرچه په تیغ ستا کره حکیم
ا نتقام ا خلی له قمقامه د صمصا م په ګوزار

فتح ونصرت چه په لاس ستاشو په نفرت شوغنیم
منهز م هم هسی کفا رشو د ګنګا په کنا ر

راکړه رخصت دوطن تل چه په فتن یمه زه
ګوره کوم وخت چه به مات مات زړګی زما کاقرار

داشرف کاندی دعاتل په طرف ستا دعفاف
چه کریم رب په عطوفت شی له تاور ك(۱) کاازار

۱– داغزل په مخبو ن ا و مقصور بحر رمل برابر دی یعنی خلن ا و قصر پکښې راغلی دی چه•

(۲)

ای شهنشـــا هــه در اقلیـم کــرا م
ملک دې خوشبوی کړ په هر خاص وپه عام

ستا لــه گیسوی چــه تور مشک وریږی
ملک دی خوشبوی کړ د گیسو ی په غمام

ستا دمخ مــاه تــه پــه ماننـد دسهــا
قــرصــ وخــورشیــد دفلــک ماه تمــام

ستادکوی خاوری می کړې کحل بصر
ماته حاصل شولــه دې خــاورو مــرام

داشــرف خلاص که دعصیان لــه بلا
یــا شفیـعـی وشفیع لا نــام (۲)

---

(۳)

لمر دمخ ستا کا په هر ځای کښې په شان تجله
لمر، قمر، ماه دفلک تا کړه په ښایست خجله

ه ر کنونه یې دادی : فاعلاتن ، فعلاتن فعلاتن فعلان دوه محله .
ښاغلی قنبر علی خان اورکزی په خپل دیوان کښې د دغه غزل په ځواب کښې په دغه
بحر یو غزل ویلی دی چه یو دوه بیته یې دادی :
ای چه گل گل ستا د رخسار په چمن راوره بهار ـ کانلی بلبل پسی تل تل د چمن شورو نتار
قلبری ستا په شرف راوره عجب در له صدف ـ که شهنشاه د نجف ورک ستا له خاطر که غبار
۲ ـ دا غزل په شپږ رکنیز مخبون او محذوف بحر رمل برابر دی چه رکنونه یې دادی :
(فاعلاتن فعلاتن ، فعلن)

ماسجر باغ ته گوزر کړ په مخه راغلي له ما
نم دشبنم و په گل پروت که په مخ ستاوه خوله

شاهدان ستا دجمال دي دسما ماه وقمر
ساکن الارض وسموات بحیار الجبله

نیک نظر ستا چه په هر ځای کښې په هر وخت کړی بهار
گوره ناظر شه و نرگس ته کوی گل په ځله

مونږ په بازار کښې دډیلی تلو خپل مکان ته په عیش
نورو نور کار کړ په دې ځای کښې په مونږ باروه غله

ستا که باور په کلام شی د شرف کم دی هنر
واخله میزان دعروض رایشه هر حرف وتله (۱)

دمیاشرف یو بنه غزل له یو چاپی کتاب ځخه چه غالباً بهار گلشن به وی زمالاس ته راغلی دی او هغه دا دی :

الم نذکرلکم لاتشربوا خمر امن المینا
چه اوس افسوس په زړه ارماند کوی دایم په واویلا

په غم غربت کښې دایم یم په عیش عشرت کښې نور عالم
په تور تالا زمانی ، له مامانې کوی لا بیا

سمن زنجیر که تورسنبل که دی زلفین دیار دمخ
دزنگ زنگیان په روم راځی که تور خط ځی په مخ بالا

---

۱ دا غزل په اته رکنیز مخبون او محذوف بحر رمل برابر دی چه رکنونه یې دادی : فاعلان فعلاتن ، - فعلاتن فعلن دوه ځله.

دیار خنداپه شان شان وی‌زه آه فریاد کوم رنگ رنگ
د شبنم‌نم په‌لیـموځی ، دګلزار ګل کوی خندا(۱)
دګردی کڅ سد اسندی(۲)له‌مامبعوث چه‌شوم بندی
دهندوستان پـه دوولښتو چـه یو ګنګـا دی بل جمنا

دمیاشرف نور شعرونه دپښتو عروض په‌دغه کتاب کښې دمثال په‌توګه راغلی دی چه‌هر یو بیت یې په‌ځانله بحر او غزل پوری اړه لری.

دمیاشرف دغه‌لاندی یو بیت دخلکو په خولو کښې ډیر مشهور دی:

زمانه درزاله‌وپه طرف شوه(۳)
ځکه‌هسکه پایه‌تیته دشرف شوه

پر ته‌له‌دې ځخه‌دمیاشرف نور شعرنه زمونږ ګوتو له‌نه‌دی راغلی ،خوپه دې‌خبره کښې هیڅ شک نشته‌چه‌دی دپښتو ژبې یو غوره شاعر او دخوږ کلام خاوند دی.

دپښتو عروض پیژندنه

میاشرف چه‌دپښتو په‌ادبی تاریخ کښې کوم‌لوی کار کړی‌دی، هغه‌دادی چه‌پښتـو شعر یې په‌ښه‌ډول دعربی عروض په‌چوکاټ کښې وراچولی دی.

۱- داغزل په اته‌رکنیز سالم بحرهزج کښې ویل شوی‌دی چه‌رکنونه‌یې دادی : مفاعیلن مفاعیلن ، مفاعیلن ، مفاعیلن ، دوه‌ځله.

۲- ددې کلمې معنی نه معلومیږی .

۳- دبناغلی سیال روایت .

زمونږ داوسنو معلوماتو له مخه دغه کتاب په دې برخه کښې لومړنی کتاب دی.

تراوسه پورې داخیال موجود و چه عربی عروض په پښتو شعر کښې نه تطبیق کېږی، مګرښاغلی میاشرف (۲۲۵) کاله پخوا د غه خیال ته د حقیقت جامه وراغوستې ده اود پښتود عروض په برخه کښې یې یوه لویه کمی پوره کړې ده. په دې کتاب کښې ښاغلی شرف د عربی عروض اصطلاحات بحرونه، زحافونه په پوره ډول بیان کړی اوعربی عروض یې په ډیر ښه ډول په پښتو شعر کښې تطبیق کړی دی؛ چه دا کار د پښتو په ادبی فنونو کښې یوستر کار ګڼل کېږی.

په دې کښې شک نشته چه د پښتو په پخوانو دیوانونو کښې هم په عربی بحرونو برابر یو نیم شعر موندل کېږی، لاکن په دغه اندازه چه ښاغلی شرف د عربی عروض په چوکاټ پښتو شعرونه برابر کړی دی داکار بل چانه دی کړی. نوځکه د دې میدان لومړی پهلوان هم دی ګڼل کېږی اوښایی چه مونږ ده ته د پښتو خلیل بن احمد ووا یو.

داکتاب یوه سر یزه او(۱۰) فصلونه لری ـ لومړی فصل د پښتو دخاصو قاعدو، دوهم دبیت داجزا و، دریم فصل دبیت دارکانو داجزا و، څلورم فصل دبیت دنا مه په باب کښې دی. پنځم فصل د هغو رکنونو په باب دی چه بحرونه ترې جوړېږی. شپږم فصل د سالم اوناسالم رکن په باب کښې دی. اوم فصل د زحاف د قسمونو اونو رفصلونه دبحرونو په باره کښې د ی.

دپښتو عروض د دغې نسخې په ځینې ځایو نو کښې حاشیې او شرحې هم راغلې دي . خو عجبه داده چه د پښتو متن شرح یې په عربې لیکلې ده او دابیخي د میا شرف یو نوی ابتکار دی چه د پښتو شرح په عربې سره کوی مثلاً په (۲٤) مخ کښې د (وقت دبهان) د کلمې په شرح کښې وایی :

ای وقت الصبح ـ هذ الغة هند ی من اکناف البنگا له .

دمیاشرف دغه عروض د پارسی له (عروض سیفی) سره د یرنژدې یوالی لری تردې چه په ځینی ځایو کښې بیخی دیو بل ترجمه معلومېږی .

دعروض سیفی کومه نسخه چه ما ورسره مقابله کړه ، هغه دهند په کانپور کښې په ۱۹۱٦ ع کال کښې چاپ شوې ده، خو د لیکلو وخت یې پوره نه معلومېږی مگر دیو بل کتاب (چهار گلزار) له خاتمې څخه دا سی بریښې چه د عروض سیفی د مولف اصلی نوم مولوی سید وارث علی دی او سیفی یې تخلص دی . او دغه چهار گلزار نومی کتاب دده په حاشیه او تصحیح په ۱۳٤۳ هـ کال په (کانپور) کښې چاپ شوی دی . مگر په خپله د (چهار گلزار) د کتاب مولف (نثاری) نومېږی چه د مستر (گورا وزلی) انگریز په سپارښتنه یې لیکلی دی .

له دې بیان څخه د امطلب اخیستل کېدای شی چه (چهار گلزار) په هند کښې د انگریزانو له راتګ څخه وروسته لیکل شوی دی . په دې حساب دعروض سیفی د مولف زمانه چه د نوموړی کتاب محشی دی له دغه وخت نه وروسته اټکل کېږی . له دې کبله ویلای شو چه دمیاشرف زمانه به دعروض سیفی له زمانې څخه د مخه وی اویا به د واړه

سره هم زمانه وی . که چیری دواړه هم زمانه وبولونو بیاکېدا ی شی چه میاشرف له عروض سیفی څخه کومه فایده اخیستی وی . په هرصورت خودا خبره جوته ده چه د میا شرف عروض له عروض سیفی څخه ډیر لنډا ومنظم دی اوبې ځایه تفصیل نه لری . میاشرف ټول (١٤) بحرو نـه په پښتو کښې تطبیق کړی دی چه دز حافاتو سره د ټولو شمېر (٤٣) ته رسېږی مگر مولوی سیفی چه کوم بحرونه په پارسی کښې تطبیق کړی دی ، د هغو شمېر څه قدر زیات دی. میاشرف او مولوی سیفی دواړه دغه پنځه بحرونه (طویل-مدید -بسیط ، وافر ، کامل)خاص عربی بحرونه بولی او په پښتو او پارسی کښې یې مثالونه نه راوړی. دغه شان دادرې بحرونه جدید، قریب، مشاکل دعجمو خاصه بولی او نور (١١) سره مشترک گڼی .ددوی دواړو ترمنځ یو بل نژدې یو الی دا دی چه میاشرف هم دهربحر د ښو دلو د پاره خپل شعرونه راوړی دی او مولوی سیفی هم دغه کار کړی دی .

میا شرف په خپل کتاب پښتو عروض کښې دغه لاندی بحـرونـه په پښتو کښې تطبیق کړی د ی :

١ــ هزج مثمن سالم - ٢- هزج مثمن مسبغ-٣- هزج مثمن مقبوض ٤ - هز ج مثمن ا خرب - ٥ - هزج مثمـن اخـرب مکفـوف مقصـور ٦- هزج مثمن اخرب مکفوف محذ وف-٧-هزج مثمن مکفوف مقصور ٨- هزج مثمن مکفوف محذوف-٩-هز ج مسدس سالم-١٠-هز ج مسدس مکفوف محذوف-١١- رجز مثمن سالم-١٢- رجز مثمن مذا ل-١٣- رجز مسد س سا لم - ١٤- رجز مسد س مخبون - ١٥- رجزمسد س مطـو ی

۱٦ـ رمل مثمن مخبون مسبغ ـ۱۷ـ رمل مثمن مخبون ـ۱۸ـ رمل مثمن مشکول ۱۹ـ رمل مثمن مخبون مقصور ـ۲۰ـ رمل مثمن مخبون محذوف ۲۱ـ رمل مسدس ۲۲ـ رمل مسدس مقصور ـ۲۳ ـ رمل مسدس مخبون مقصور ـ۲٤ـ منسرح مثمن مطوی موقوف ـ۲۵ـ منسرح مثمن مطوی مکسوف ۲٦ـ منسرح مثمن مطوی منحور ـ۲۷ـ مضارع مثمن اخرب ـ۱۸ـ مضارع اخرب مکفوف مقصور ۲۹ـ مضارع اخرب مکفوف مسبغ ـ۳۰ـ مقتضب مطوی ـ۳۱ـ سریع مطوی موقوف ـ۳۲ـ مجتث مثمن مخبون ـ۳۳ـ مجتث مخبون محذوف ـ۳٤ـ قریب مکفوف ۳۵ـ خفیف مخبون محذوف ۳٦ ـ خفیف مخبون محذوف مشعث ـ۳۷ ـ خفیف محجوف مخبون ۳۸ـ مشاکل سالم ـ۳۹ ـ مشاکل مکفوف مقصور ـ٤۰ ـ متدارک مثمن مخبون ٤۱ـ متقارب مثمن مقصور ـ٤۲ ـ متقارب مثمن اثلم ـ٤۳ـ جدید مسدس مخبون.

د پښتو عروض نثر:

ددې کتاب نثر که څه هم یو علمي نثر دی، خو بیا هم په اسا نه پښتو لیکل شوی دی او مطلب ترې په ښه ډول ولاړیږي. دغه کتاب په نیم منظوم نثر لیکل شوی دی چه دخیر البیان له نثر سره نژدیوالی لري، مګر دقافیې د تړلو خیال پکښې نه دی ساتل شوی، یو ازې دوزم او تول مالګه پکښې شته دی .

دلغاتو په استعمال کښې دمنځنی دورې دسبک پیروی کوي . د کلمې په سر کښې د(وصل و) دیر راوړې لکه: ودې بحر ته محبتث وایی .

دغه شان د(وبله) کلمه هم دمخزن په تو ګه راوړی لکه: وبله نژدې دی.

پــه دې کتـاب کښې د(ترا) کلمه چه ددول اودودمعنی ور کوی، ډیره راغلې ده لـکه: صورت ددایرې په داترادی نظرو کړه .

په دې کتاب کښې اضافی ترکیب زیات د پخوانـو کتابونـو په شان دپارسی په څېرراځی یعنی مضاف له مضاف الیه څخه د مـــخه راوړی لـکه: نحرپه اصطلاح کښې غورزول دد واړو سببونو ـ یارمل په لغت کښې دویدن داوښ ته وایی .

د دې کتاب دنثریو ه لویــه ښیگړه داده چه گران عـربـی عروضی اصطلاحات یـې په ډیره سو چه او خوږه پښتو اړولی دي لـکه دا مثالونه :

وقص وایـی دورمېږوماتــول ته خبن له چولـې څه پریـکول دی .

عصب د اوښ پـتون تــړل دی عـقل زنـگون تـړل داوښ د ی .

قبض وایی اخستو ته هسی وقف ودریدو ته کسف داوښ سپینی پریـکول دی .

په دې نثر کښې دمجهول استمراری فعل دحال صیغه تل په دې شان راځی(وایه شی، راوړه شی) دغه شان پکښې دنو میزی صیغه زیاته د(نو می) په شکل راغلې ده .

دوهمه برخه

سپړدنه :

په دوهمه برخه کښې مونږ غواړو چه په خپله دکتاب دمتن په شاوخوا کښې یوڅه پلټنه وکړو ځینی تـکی یې را وسپړو او رڼا پرې واچـوو(۱) ترڅو چه مطلب یې ښه روښانه اوڅرګندشی .

(۲) مخ

دشعرپه باره کښې میاشرف زیات څه نه دی ویلی، خو عروض سیفـی او نورو کتابونو کښې زیاته څېړنه کړې ده . د ی لیکی چه شعرد پوهـی په معنی اوشاعرد پوهـیالی په معنی اویا دشعرد خاوند پـه مـعنـی دی . دی دځینو تاریخونو په حواله لیکی :

چه اول شعر آدم علیه السلام دهابیل په ویرنه کښې پـه سوریانی ژبه ویلی دی چه خپل وروړقابیل وژلی ؤ. دی دعربی اول شاعریعرب بن قحطان اودپارسی اول شاعر بهرام گور بولی(۲) مگر په زبدة الصحایف کښی

۱ــ په دې سپړدنه کښې دا صل کتاب مخونه دعنوان په توګه راغلی اوورو سته وروځنی دهماغه مخ مربوط سپړدنه داوړل کیږی.

۲ــ عروض سیفی ۳ ــ مخ .

اول شاعر حمیر بن سبا بن یشجب بن یعرب بن قحطان بلل شوی دی(۱).

عروض دع په زور باندې هغه علم دی چه شعر پرې تلل کېږی.

دعربی دعروض راویستونکی خلیل بن احمد دی. عروض سیفی دی بصری بولی اوپه حدایق البلاغه کښې فرهودی راغلی دی چه فرهود دنجدیوه قبیله ده(۲) .

دی په (۱۷۰ ه) کښې مړ شوی دی. ابن خلکان وایی چه دی په موسیقی اونغمو باندې ښه پوهېده .

مولوی سیفی دپارسی د عروض راویستونکی مولا نا یوسف عروضی نیشاپوری بولی. میاشرف هم د غه روایت رانقلوی، مگرورسره دپښتو د عروض راویستونکی خپل ځان گڼی. مولوی سیفی د مولانا یوسف عروضی زمانه نژدې د وه سوه کاله له خلیل بن احمد څخه وروسته گڼلې ده نوپه دې حساب دده زمانه د څلورمی هجري پېړۍ وروستی برخه او دپنځمی پېړۍ اوله برخه اټکل کېدای شي.

(۳) مخ

په دې مخ کښې میاشرف دپښتو عروض یوه خاصه قاعده بیان کړې ده او هغه داده چه د پښتو شعرونو په میچون کښې لومړی ساکن ته هیڅ اعتبار نشته اوپه میچون کښې غورزېږی، مگر نوری قاعدې یې نه دی بیان کړی او ښایی چه هغه یې د پارسی د قاعدو په شان گڼلې وی .

۱ــ زبدة الصفحایف ۱۰۰ ـ مخ.

۲ــ حدایق البلاغته ــ ۸۹ ـ مخ .

لاکن خبره داده چه د پښتو اوفارسي قاعدې تولی یو رنګ نه دی اویوڅه فرق پکښې موجود دی چه مونږیې په وروسته ډول ښودل غواړو.

۱ــ د پارسی په میچون کښې لیک ته اعتبار نشته بلکه ویون اعتبار لری . لکه آدم چه د فعلن په وزن دی . د غه قاعده پــه پښتو کښې هــم سمون خوری لکه په آل واصحاب کښې چه (آ) د(لن) په وزن دی.

۲ــ په پارسی کښې کله حرکت د حرف په ځای او کلــه حرف د حرکت په ځای حسابیږی مګرپه پښتو کښې کوم حرف چه د حرکت علامه وی په میچون کښې نه راځی. لکه (هسی انوار) چه دفعلاتن پــه وزن دی اود هسی (ی) په حساب کښې نه نیول کېږی .

۳ــ په پارسی کښې که دوه ساکن توری د بیت په منځ کښې راشی نودوهم یې غورزیږی اوکه په آخر کښې راشی نودواړه حسابیږی اوکله پکښې دوهم ساکن حرکت پیداکوی اوکه درې ساکنه راشی نووروستی یې غورزیږی اودوهم حرکت پیدا کوی (۱) .

مګرد پښتو قانون ډیراسان دی اوپه عام ډول دوهم ساکن اودریم ساکن په میچون کښې نه را ځی اوغورزیږی مګرد بیت په آ خر کښې کله کله په حساب کښې راځی لکه په ګلزار کښې چه د فعلان په وزن دی.

٤ــ په پارسی کښې ساکنه (ه) که د بیت په منځ کښې راشی غورزیږی اوکه په آخر کښې راشی نو د ساکن توری حکم لری (۲) .

---

(۱) حدایق البلاغته ــ۱۰۱ مخ .

« ۲ » عروض سیفی ــ۷ مخ .

مگرپه پښتو کښې هغه(ه)چه د حرکت سره وی عموماً غورزیږی لکه لمدې ثانی ـ چه د فعلا تن په وزن دی.

او کله د آخرساکنه ملفوظی (ه) هم په حساب کښې نه راځی لکه (دگناه)چه د فعلن په وزن دی.

ه ـ مشدد توری په پارسی کښې په دووتوروشماریږی او په پښتو کښې هم د غه قانون دی لکه: (دامت) کلمه چه د مفاعی په وزن ده اوداسی:

(دام= مفا، مت= عی) تجزیه کیږی.

٦ـ په پارسی کښې معدوله(و) له میچون ځخه غورزیږی مگر په پښتو کښې هرواوپه حساب کښې راځی، مگر کوم واوچه یوازی دپیښ په ځای وی؛ هغه په شمېره کښې نه راځی لکه: (لعلو کان دی) چه د فاعلاتن په وزن دی اوواویې په حساب کښې نه راځی.

(۷) مخ

په دې مخ کښې د ابراهیم بن عبدالرحیم عروضی اوابن خباز نومونه راغلی دی.

په عروض سیفی کښې هم دغه نومونه راغلی دی. مگر د ریاض الصنایع روایت یوازې میا شرف را نقل کری دی چه له دې ځخه دده زیاته مطالعه اوزوره کتنه ځرگندیږی.

(۹) مخ

په دې مخ کښې میاشرف وایی چه داته وارِوار کا نوله تکرارڅخه

(۱۹) بحره ولاړېږی چه له د غوځخه داپنځه په عربو پوری خاص دی (طویل، مدید، بسیط، وافر، کامل) اودادرې بحره (جدید، قریب، مشاکل) په عجمو پوری خاص دی اوپا تـی (۱۱) سره شریک دی. دغه بیان کټ مټ په عروض سیفی کښې هم راغلی دی، مگرپه حدا یق البلاغته کښې وایی چه خلیل بن احمد پنځلس بحرونه راویستلی دی او د عربو بحرونه یې په د غو کښې حصرکړی دی خو سکاکی په مفتاح کښې وایی چه د بحرونو د اوزانو حصر کېدل مشکل کار دی اویوه سلیمه طبع یې هروخت زیاتولی شی (۱) .

خلیل بن احمد د غـه پنځلس بحرونه په پنځو دا یرو کښې راوړی دی چه نو مو نه یې دادی: مختلفه، موءتلفه، مجتلبه، مشتبه، متقاربه (۲).

(۱۰) مخ

په دې مخ کښې میاشرف لیکی چه د زحاف قسمونه د یرد ی خو ما ورځنی (۲۵) قسمه راوړی دی چه نو مو نه یې دادی:

اضمار، وقص، خبن، عصب، عقل، قبض، وقف، کسف، کف، قطع، تسبیغ، تـذ ییل، شتر، خـرب، قصـر، طـی، حـذ ف، ثلم، تشعیث، بتر، خبل، جزع، ترفیل، شکل، حجف .

مگرپه (۲۸) مخ کښې میاشرف بحرمنسرح مثمن مطوی منحور هم راوړی دی چه د(نحر) زحاف پکښې راغلی دی اوله دې زحاف سره

۱ـ حدایق البلاغته ۸۹ مخ .
۲ـ زبدة الصحایف ۱٦۱ مخ .

دزحافونو شمېر (۲٦) ته رسېږي:

خو په عربي او پارسي کتبي دزحافونو شمېر تر (۲۵) زیات دی او وایي چه (۳۵) ته رسېږي (۱) چه دځینو نومونه یې دادي: قطف، خرم، قصم.

(۱٤) مخ

په دې مخ کښې مباشرف خبل یو ازی دمستفعلن د (ف) غورزول ښودلي دی حال دادی چه په مفتاح العلوم (۲) او چهار گلزار کښې (۳) خبل دخبن او طی یو ځای راتلو ته وایي. دمثال په توگه په مفعولات کښې چه (ف) په خبن او (و) په طي سره لېري شي نو معلات پاتي کېږي او فعلات یې پر ځای راځي. دغه غبرگ زحاف ته خبل وایي.

له دې کبله کېدای شي چه له مباشرف څخه ددغه زحاف دوهم توکی خبن په سهو سره پاتي شوی وي.

په همدغه مخ کښې مباشرف دجزع په نامه یو زحاف راوړی دی مگر په حدایق البلاغته او چهار گلزار کښې دغه زحاف د (جدع) په نامه راغلی دی خو مطلب یې سره یو دی. هغه دادی چه دمفعولات له رکن څخه دواړه خفیف سببونه غورزېږي، (ت) ساکنېږي او (لات) پاتي کېږي چه (فاع) یې پر ځای راځي.

(۱٦) مخ

په دې مخ کښې ددې نیم بیت (صلواة سلام دې وي په تا رسول کریم دحق اله)

۱ــ حدایق البلاغته ــ ۹٦ مخ. «۲» ــ ۱۲۲ مخ. «۳» ــ ٦۳ مخ.

میچون پەدې دول کېږی :(۱)
صلواة سلام مفاعلن ، دېوی پە تامفاعلن ، رسول کریم مفـاعلن دحق‌اله مفاعلن .
دا بیت پەمثمن مقبوض هزج ویلی شوی دی .

پەهمدغه مخ کښی دانیم بیت (عطا تکریم دحق سبحان، خطاتقصیر لەماهرآن) چەپەهزج مثمن‌مسبغ بحرویلی‌شوی‌دی‌داسی پرتله‌کېږی:
عطاتکریم مفاعیلن ،دحق‌سبحان مفاعیلن،خطاتقصیر مفاعـیلن .
لەماهرآن مفاعیلان .ددې بیت پەعروض اوضرب یعنی څلورم او اتم رکن کښی تسبیغ پیښ‌شوی‌دی.یعنی دخفیف‌سبب (لن) پە منځ کښی الف ورزیات شوی دی .
پە همدغه مخ کښی ددې‌وروسته نیم بیت (خوشرنګ چەدباغ ګل دی، بلبل پەچغارتل دی) مېچون پەدېدول کېږی: خوش رنګ چە مفعول ،دباغ ګل‌دی مفاعیلن ،بلبل پە مفعول ، چغارتل دی مفاعیلن دلته دوهم ساکن یعنی (ش، ګ،غ ،ر) پە حساب کښی نـه راځـی .
دا بیت پە مثمن اخرب هزج کښی ویلی شوی دی .

(۱۷) مخ

پە دې مخ کښی د دې نیم بیت مېچون داسی دی :
(سورګل چە سحروقت پەجمال ستاکەنسیم خور)

۱ــ پە کوم مثال کښی چەمیاشرف پەخپله تقطیع‌نەده کړې نومونږ پەدې‌سپردنه کښی دنمونې پە توګه یوازې د نیم بیت تقطیع کوو .

سور گل چه‌مفعول ، سحر وقت په‌مفاعیل ، جمال ستا که مفا عیل نسیم خور مفاعیل . دلته دبیت په منځ کښې دوهم ساکن په‌حساب کښې نه‌نیول کیږی . مگر دبیت‌په‌آخر کښې‌دوهم ساکن‌هم‌حسا بیږی لکه‌خور چه د (عیل)په وزن دی .

دابیت په‌اخرب‌مکفوف مقصور هزج ویلی شوی‌دی .

په همدغه مخ کښې دانیم بیت (عاشق که‌په تصد یق سره طـا لب دحبیب‌وی) داسی تلل کیږی: عاشق که مفعول ، په تصدیق‌س مفاعیل ، رطالب دمفاعیل ، حبیب‌وی فعولن ، چه په اخرب مـکفوف محذوف هزج ویلی شوی دی .

(۱۸) مخ

په دې مخ کښې ددې نیم بیت مېچون داسی دی :

(که عاقل يې په‌لاس واخله په‌دنیا دبقا کار) که‌عاقـل يې ، مـفاعیل په لاس واخله مفاعیل ، په دنیا دمفاعیل ، بقا کار مفاعیل . چه بـحريې مکفوف مقصور هزج دی .

په دغه مخ کښې ددې نیم بیت (که‌هرڅوپې پـه دنـیا کښې عمارت لکه غروی) میچون داسی دی : که‌هرڅوپې مفاعیلُ، په‌دنیا کښې مفاعیل عمارت له‌مفاعیل، که‌غروی‌فعولن.چه‌بحريې‌مکفوف‌محذوف‌هزج‌دی.

په دغه مخ کښې دانیم بیت :

(شکرکان‌دی‌شکر گوی‌دی‌شکرخوی‌هم)

داسی تقطیع کېږی: شکر کان‌دی مفاعیلن ـ شکر گوی‌دی مفاعیلن شکر خوی‌هم مفاعیلن. چه بحریې شپږ رکنیز سالم هزج دی.

(۲۰) مخ

په دې مخ کښې دابیت (رحمان رحیم مولاچه دی قادر قدیر هر آن) چه په اته رکنیز مذال رجز ویلی شوی دی داسی پر تله کېږی: رحمان رحیم مستفعلن ـ مولاچه دی مستفعلن ـ قادر قدیر مستفعلن ـ هر آن زمان مستفعلان.

په همدغه مخ کښې دانیم بیت (په هر عمل چه دی طلب له تاحساب) چه په شپږ رکنیز مخبون رجز ویلی شوی دی داسی تلل کېږی: په هر عمل مفاعلن ـ چه دی طلب مفاعلن ـ له تاحساب مفاعلن دلته په آخر کښې هم دوهم ساکن په حساب کښې نه دی نیول شوی.

په همدغه مخ کسې دغه نیم بیت (ځان که ومر ضاته دیار تکره تیار) داسی پرتله کېږی: ځان که ومر مفتعلن ـ ضاته دیار مفتعلن تکره تیار مفتعلن ـ چه په شپږ رکنیز مطوی رجز ویل شوی دی.

(۲۳) مخ

په دې مخ کښې دمخبون بحر رمل په وزن یو نیم بیت اته رکنه هم راغلی دی لکه: همه انوار فعلاتن ـ دجلال جاه فعلاتن ـ د جمال ستا فعلاتن په سما پاس فعلاتن ـ چه له افتافعلاتن ـ به هوید افعلاتن هسی انوار فعلاتن ـ دقمر دی فعلاتن.

عروض سیفی هم په دغه بحر کښې دپارسي یو مثال راوړی دی (۱) .

(۲٤) مخ

په دې مخ کښې روسته بیت په اته رکنیز مشکول رمل ویل شوی دی:

که په مخ د گل په شان دی که په لب دلعلو کان دی
په چمن دکا ینات تل همگی له تا عیا ن دی

چه میچو ن یې په دې ډول دی :

کـه پـه مـخ د فعلات ـ گل پـه شان دی فاعلاتن .
کـه پـه لب د فعلات ـ لعلـو کـان دی فـاعلاتن .
پـه چمـن د فعـلا ت ـ کـا یـنـات تـل فاعلاتن .
همگی لـه فـعـلا ت ـ تا عیان د ی فـاعـلاتـن .

په دې بیت کښې دلعلو کان دکلمې (و) په حساب کښې نه راځي ولی چه دپېښ او حرکت په ځای راغلی د ی او ځانـلـه تو ر ی نـه د ی .

په دغه مخ کښې ددې نیم بیت (گل څو خندا که دشبنم په ژړا وقت دبهان) چه په اته رکنیز مخبو ن مقصو ر رمل ویل شوی دی میچو ن په دې ډول دی:

گل څو خندا فاعلاتن ـ که دشبنم فعلاتن ـ په ژړا وقت علاتن دبهان فعلات .

دلته دڅو واو په حساب کښې نه دی راغلی او دحر کت حکم لری .

ـ په همدغه مخ کښې دا نیم بیت (آل و اصحاب چه دی دین له په مانند دقمر) په اته ر کنیز مخبو ن محذوف رمل ویل شوی دی چه میچون یې په دې

۱ـ عرو ض سیفی ـ ۲۳ مخ .

۲ـ بهان ـ یو هندی لغت دی چه د سهار وخت ته وایی .

دول دی : آل واصحافاعلاتن ــ ب چه دی دین فعلاتن ــ له په مانندفعلاتن دقمر فعلن . دلته هم دآل نه وروسته واو په شمېره کښې نه نیول کېږی ولی چه دپېښې په ځای دی .

(۲۵) مخ

په دې مخ کښې دانیم بیت (وی دې وارد په نبی پاك صلواة)په شپږ رکنیز مخبون مقصور رمل ویــل شوی دی چه مېچون یې په دې دول کېږی: وی دې وار د فـاعــلاتــن ــ په نبی پــا ك فــعــلاتــن ــ صلواة فعــلات .

(۲۸) مخ

په دې مخ کښې دغه بیت (عـفو کرم تاله دینه ماله خطاتل ـ ماله خطاتل چه وینه تا له عطاتل) پـه اتـه رکنیز مطوی منحور منسرح ویل شوی دی چه دا سی تقطیع کېږی :

عفـو کرم مفتعلن ــ تا له دینه فاعلاتُ ــ ماله خطا مفتعلن ــ تــل فــع دلته دنحر په نامه یو بل زحاف هم پېښ شوی دی .چه په دې حساب ددې کتاب د زحــافو نو شمېر (۲٦) تــه رسېږی .

په دې مخ کښې دغه نیم بیت (ای چه دمعراج په سیر عرش چه ممر دی له تا) په اته رکنیز مطوی مکسوف منسرح ویــل شوی دی، چه په دې دول تلل کېږی : ای چــه دمـع مفتعلن ــ راج پــه سیر فاعلن ــ عرش چه ممر مفتعلن دی له تا فاعلن .

(۳۰) مخ

په دې مخ کښې دغه بيت

(انهاردننګرهارلره جريا ن په هر نهـا ر دى
ګردى په‌ننګرهار لکــه سور ګـل دنوبهاردى)

په اخرب مکفوف مسبغ مضارع بحروبل‌شوى‌دى‌چه وزن يې دادى (مفعولُ، فاعلاتُ، مفاعيل، فا علييان) اومېچون يې دا سى کېږ ى :

انهار دمفعو ل ـ ننګرهار له فـاعلات ـ ره‌جريـان په مفـاعيل هرنهاردى فاعلييان .

يادګېرنه : دپورته شعرعروض اوضرب که‌څه هم په اصل کتاب کښې مسبغ راغلى دى ، مګر له مېچون څخه داسى بريښى چه دتسبيغ زحاف پکښې نشته بـلکه هرنهاردى دفاعلاتن‌په‌وزن‌دى‌اوکوم زحاف پکښې نه‌ښکارى نوښايى چه‌دغه بحر يوازې اخرب مکفوف‌وبلل شى.

(۳۳) مخ

په‌دې مخ کښې دمجتث نامه ته‌لنډ‌ه‌غوندې‌اشاره‌شوې ده‌خوسپړ دنه يې داده چه اجتثاث له‌بېخه راويستل دى او دغه بحرله‌مسد س خفيف بحر څخه‌راويستل شوى‌دى څـکه‌چه‌ددواړو رکنونه‌اولفظونه‌سره‌يودى يوازې دومره فرق دى چه‌په‌مجتث کښې مستفعلن لومړ ى اوفا علا تن فاعلاتن وروسته راځى اوپه خفيف بحر کښې‌مستفعلن‌دلو مړى اودوهم فاعلاتن په‌منځ کښې راځى .

په‌دغه مخ کښې دانيم بيت(صلوة‌سلام دې مدام وى په‌پاک‌نبى‌داله) چه په‌مخبون محذوف مجتث بحرويل شو ى د ى دا سى تلل کېږ ى :

صلواة سلام مفاعلن ــ دې مدا م و یفعلاتن ــ پهپـا ك نبـی مفا علن داله‌فعلن . اوبل نیم بیت یې پهدې ډول دی:

پهسخت زمان چه بهوی دی شفیع زمونږ دګناه.

مېچون : پهسخت زمان مفاعلن ــ چه بهو ی د ی فعلا تن ــ شفیع زمو نږ مفاعلن ــدګناه فعلن .

دلته‌دبیت پهمنځ کښې تول دوهم اودریم سا کن توری لهمنځهوځی اوپه مېچون کښې نه راځی لکهچهد(سخت، زمان ، شفیع ، زمونږ) په کلمو کښې (ت،ن، ع، نږ) پهحساب کښې نهنیول کېږ ی .

ددې بیت پهعروض اوضرب کښې سربېرهپردې چهخبن راغلی‌دی، حذف هم پکښې پیښ‌شوی‌دی‌یعنی‌دوه‌زحافه‌پکښې‌راغلی‌دی‌مثلاً :

فاعلاتن اول پهخبن سره‌فعلاتن‌شو بیاپه‌حذف‌سره‌فعلاشو چه‌بدل‌یې فعلن دی .

(٣٤) مخ

پهدې مخ کښې میاشرف لیکی چهقریب بحر پهپار سی کښې مو لانـا یو سف عروضی نیشاپوری راویستلی‌دی .دغهروایت مو لو ی سیفی هم راوړی‌دی.اووایی چه دهله‌خلیل بن احمدڅخه‌ورو سته‌دغه‌بحراختراع کړی‌دی .(١)

پهدغه مخ کښې‌دابیت :

١- عروض سیفی – ٣٦ مخ .

که هرخود قمرمخ چه بې بـها دی
دیارمخ لکه خورشید قمرسها دی (۱)

چه په مکفوف قریب بحر ویلی شوی دی داسی تقطیع کېږ ی :
که هرخو دمفاعیل ـ قمر مخ چه مفاعیل ـ بې بهادی فاعلاتن.

---

(۳۵) مخ

په دې مخ کښې دانیم بیت (رب دې مغفورپه دیر کر م که شرف ؟
چه په مخبون محذ وف خفیف بحرویل شوی دی داسی تلل کېږی :
رب دې مغفور فاعلاتن ـ په دیر کرم مفاعلن ـ که شرف فعلن په دې مثال
کښې اول رکن سالم ، دوهم مخبون اودریم مخبون او محذوف دی
په دغه مخ کښې خفیف مخبون مشعث په دې وزن راغلی دی :
فاعلاتن ، مفاعلن ، مفعولن . مگر دبیت له مېچون څخه معلومېږی
چه په حشو کښې سر بېره په خبن حذف هم پیښ شوی دی . یعنی مستفعلن اول
په خبن سر ه مفاعلن بیا په حذف سره مفاع شو چه بد ل یې فعولُ دی لکه :

وی به خوشبو یه شاخ رحما نی   وی که شاغل په ذ کر رحمانی

مېچون : وی به خوشبو ، فاعلاتن ـــ یه شاخ فعول ـ رحمانی مفعولن
دلته اول رکن روغ دوهم مخبون محذوف اودریم مشعث دی(۲).

۱ـ سها دیو ستوری نوم دی .
۲ـ خبن او حذف په یو ه رکن کښې د مخه په مجتث بحر کښې هم جمع شوی دی چه هلته فاعلاتن په خبن اوحذف سره «فعلن» شوی دی . په پا رسی کښې هم خبن او حذف په یوه رکن کښې جمع کېږی ـ ۲۵ مخ عروض سیفی .

په دغه مخ کښې د انیم بیت (څوسما عر ش د ار ض قیا م و ی)
چه‌په محجوف مخبون خفیف بحر ویل شوی دی‌داسی تلل کېږی :
څو سماعر ش فاعلاتن ــ دارض قیام مفاعلن ــ وی فع .
دلته اول ر کن روغ ـ دوهم مخبون- اودریم محجوف دی .

(۳٦) مخ

په دې مخ کښې دانیم بیت (هرچه لایق داکرام دی په اسلام دی .)
چه په مشا کل بحرویل شودی داسی تلل کېږی :
هرچه لایق فاعلا تن ــ داکرام دی مفاعیلن ـ په‌اسلام‌دی مفاعیلن
دلته ټول ر کنو نه سالم اوروغ دی .

په دې مخ کښې دانیم بیت(تل دې وی په نبی پاك صلواة کل)
چه په مکفوف مقصورمشا کل بحر ویل‌شوی د ی په‌دې وزن زاغـلی‌دی
(فاعلاتُ ، مفاعیلُ، مفاعیل)مگر له‌هېچو ن څخه معلو مېږ ی چه‌په عروض
یعنی‌دریم ر کن کښې دقصر په‌ځای‌حذف ر اغلی دی‌اوهېچو ن‌یې داسی د ی:
تل دې وی په فاعلات ــ نبی پاك ص مفا عیل ــ لو اة کل‌مفاعی.

په همدغه مخ کښې :
میاشرف وایی چه بحرمتدارك ابو الحسن اخفش راویستلی دی .
مو لوی سیفی هم دغه‌روایت ر انقل کړیدی(۱)اودادعربی شپاړسم بحردی.

۱ــعرو ض سیفی ــ ۱٤ مخ .

په دې مخ کښې دانیم بیت (په سحرچه نسیم که سرورد حیات) چه په مخبون متدارك بحرويل شوی دی داسی پرتله کېږی :

په سحرفعلن ــ چه‌نسیم فعلن ــ که سرورفعلن ــ دحیات فعلن دلته‌تول رکنونه مخبون دی اودوهم ساکن (م،ر،ت) پکښې له منځه غورز یدلی دی .

په‌دغه مخ کښې دابیت :

سحرد ی په قد رت دپر وردگار

پــه خنداد گــلــزارد بلبل چغار

په اته رکنیز متقارب مقصوربحرويل شوی دی چه داسی تلل کېږې :

سحردی فعولن ــ په قدرت فعولن ــ دپرورفعولن ــ دگار فعول په خندافعولن ــ دگلزارفعولن ــ دبلبل فعولن ــ چغارفعول .

دلته دبیت په‌آخر کښې دوهم‌ساکن‌هم‌په‌حساب‌کښې‌راځی یعنی دگاراو چغار(ر) هم په تـول کښې نیول شوې ده .

په همدغه مخ کښې دانیم بیت (څووی په آسمان گردش دآفتاب) چه‌په‌متقارب اثلم بحرويل شوی دی‌داسی پر تلل کېږی :

څووی‌فعلن دع سکون‌ـ‌په اسمان‌فعولن‌ـ گردش فعلن‌دآفتاب‌فعولن .

دلته په اول اودریم رکن کښې (ثلم) پیښس شوی دی .ثلم دفعولن
ذ(ف) غورزیدل او فعلن یې په ځای راوړل دی .

(۳۸) مخ

په دې مخ کښې دانیم بیت (چه ثناتاله جهان کاندې هرزمان)
چه په شپږ رکنیز مخبون جدید بحر ویل شوی دی داسی تلل کېږی :
چه ثنافعلاتن ــ له جهان کان فعلا تن ــ دې هرزمان مفاعلن .

په همدغه مخ کښې میاشرف وایی چه دغه بحرته جدید ځکه و ایی
چه نوی پیداشوی دی . مولوی سیفی هم لیکی چه بحرجدید یو نــوی
بحردی اوبزرجمهرپیداکړی دی (۱) مگــرپه دې خبره کښې داتضاد
موجوددی چه یو بحرچه بزرجمهر له اسلام نه پخواپیداکړی دی، هغه
څنگه نوی بلل کېدای شی ؟ خو میاشرف دغه مطلب په ښه عبارت راوړی دی.
دی لیکی : چه دغه بحرنوی پیداشوی دی . او ځینی وایی چه دا
بحردبزرجمهر له فکره راوتلی دیٰ له دې عبارت نــه دامطلب راوځی
چه دغه بحرپه اصل کښې یو عجمی بحردی ، پخواپیدا شوی دی خوپــه
پارسی اوپښتو کښې نوی تطبیق شوی دی .

۱ــ عروض سیفی ــ ۳۵ مخ .

دپښتو عروض د۱٤ بحرونو وزنونه:

ددې دپاره چه لوستونکی ددې کتاب د بحرونو اصلی وزن په اسانی سره زر پیدا کړی شی نو غواړو چه ددغو بحرونو اصلی وزنونه وروسته وښیو.

۱ـ هزج بحر: مفاعیلن ، مفاعیلن ، مفاعیلن ، مفاعیلن (دوه ځله)

۲ـ درجز بحر: مستفعلن ، مستفعلن ، مستفعلن ، مستفعلن (« «)

۳ـ درمل بحر: فاعلاتن ، فاعلاتن ، فاعلاتن ، فاعلاتن (« «)

٤ـ منسرح: مستفعلن ، مفعولات ، (دت پیښ) مستفعلن ، مفعولات (« «)

٥ـ مضارع: مفاعیلن ، فاعلاتن ، مفاعیلن ، فاعلاتن (« «)

٦ـ مقتضب: مفعولات ، مستفعلن ، مفعولات ، مستفعلن (« «)

۷ـ سریع: مستفعلن ، مستفعلن ، مفعولات ، (دت پیښ) شپږ ر کنیز (« «)

۸ـ مجتث: مستفعلن ، فاعلاتن ، مستفعلن ، فاعلاتن (« «)

۹ـ قریب: مفاعیلن ، مفاعیلن ، فاعلاتن ، شپږ ر کنیز (« «)

۱۰ـ خفیف: فاعلاتن ، مستفعلن ، فاعلاتن ، شپږ ر کنیز (« «)

۱۱ـ مشاکل: فاعلاتن ، مفاعیلن ، مفاعیلن ، شپږ ر کنیز (« «)

۱۲ـ متدارك: فاعلن ، فاعلن ، فاعلن ، فاعلن (« «)

۱۳ـ متقارب: فعولن ، فعولن ، فعولن ، فعولن (« «)

۱٤ـ جدید: فاعلاتن ، فاعلاتن ، مستفعلن شپږ ر کنیز (۱) (« «)

۱ـ په دې بحرونو کښې قریب ، مشاکل او جدید نوی بحرونه بلل شوی دی .

PROPERTY OF ACKU 2963

اخیستونځی

ددې کتاب په سمونه او سپړدنه کښې له دغو کتابو څخه فایده اخیستل شوې ده:

عروض سیفی ـ د مولوی سیفی تألیف ـ دهند د کانپور چاپ ـ ۱۹۱۶ع

چهار گلزار ـ د مولوی نثاری تألیف ـ « « « ـ ۱۳۴۳هـ

حدایق البلاغته ـ دشمس الدین تألیف ـ د لاهور چاپ ـ ۱۹۲۰ع کال

مفتاح العلوم ـ ابو یعقوب سکاکی ـ د مصر چاپ.

زبدة الصحایف ـ د نوفل افندی تألیف ـ د بمبی چاپ ۱۳۲۳هـ

مننه

ددې کتاب په تصحیح او مقابله کښې ښاغلی عزیز الرحمن سیفی او ښاغلی عبدالصمدخان هم پوره مرسته کړې ده چه په دې وسیله ورځنې خوښی ښکاره کېږی.

د چاپ شمیر :
(۲۵۰۰)

[illegible]
دپوهنی مطبعه